د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او
درسي کتابونو د تالیف ریاست

# رياضي

## دوهم ټولګی

۵ = ۵

۴ > ۳

٦ < ۷

۲ + ۳ = ۵

۵ - ۳ = ۲

۴ × ۱ = ۴

۴ ÷ ۴ = ۱




د چاپ کال: ۱۳۸۸ هـ . ش.

د پوهنې وزارت

د تعليمي نصاب د پراختيا او

درسي کتابونو د تاليف رياست

# رياضي

## دوهم ټولګی

د چاپ کال: ۱۳۸۸ هـ . ش.

# د کتاب د تالیف، څېړنې او تدقیق کمېټې

## لیکوالان:

سرمؤلف عبدالکبیر د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د ریاضي د دیپارتمنت آمر.

سرمؤلف نظام الدین د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د ریاضي د دیپارتمنت غړی.

## تایید او مطالعه:

## ملي شورا:

د ولسي او مشرانو جرګو د دیني، پوهنې او لوړو زده کړو د کمیسیونونو غړي.

## د څېړنې او تدقیق کمېټې:

## پوهنې وزارت:

شاه آغاسي د ښوونکې د روزنې علمي غړی.

ژباړونکی: سرمؤلف نظام الدین.

محمد عزیز تحریک د پښتو دیپارتمنت آمر، ادیتور.

## د کابل ښار د پوهنې ریاست:

عبدالکریم د استقلال د لیسې استاد.

## د محتوا، دیني او سیاسي فرهنګي برخو د څېړنې او بررسۍ کمیټه:

۱- دوکتور محمد یوسف نیازی د پوهنې وزارت سلاکار.

۲- محمد آصف ننګ د پوهنې وزارت د خپرونو او اطلاعاتو رئیس

## د څېړنې او تدقیق د څارنې کمېټه:

- دکتور عبدالغفور غزنوي د پوهنې وزارت د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ساینس مرکز او د خپرونو مرستیال. دکمېټې رئیس

_ محمد صدیق پتمن د پوهنې وزارت تدریسي مرستیال. غړی.

_ د سرمؤلف مرستیال عبدالظاهر ګلستانی د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف رئیس. غړی.

بسم الله الرحمن الرحيم

## پیغام

د لوی خدای (ج) شکر ادا کوو چې زموږ د مجاهد ملت د کلکې ارادې، بېدریغه قربانیو، د ملګرو ملتونو او د نړۍ د بشردوستو هېوادونو د نیکو هلوځلو په پایله کې په هېواد کې سراسري سوله او مشروع سیاسي نظام ټینګ شو او له جګړې څخه را پیدا شوی څوکلن کړاو یې پای ته ورساوه. د افغانستان اسلامي جمهوریت او په سرکې یې جلالتمآب حامدکرزی د واکمن وګړنیز نظام له پیل څخه ملي سترو موخو ته د رسېدو په هیله د هېواد د بیارغاونې او پراختیا په ټولو برخوکې د نوو پروګرامونو تګلاره پیل کړې ده. د ښوونې او روزنې په برخه کې او د معارف د نوي کیدو او غوړیدو په لاره کې هڅې، د ملي یووالي، متمدنو، رښتینو او د پیاوړو مسلمانانو په توګه د نوی ځوان نسل د روزنې په برخه کې د دغه جلالتمآب زیات ملاتړ او زړه سواندې لارښوونې چې تر تطبیق لاندې دي د ډېرې درناوي وړ دي.

دپوهنې وزارت دهغو لارښوونو او نوښتونو له جملې څخه چې د افغانستان دپوهنې د بیارغاونې په لاره کې یې ترلاس لاندې لري، د تعلیمي نصاب د پرمختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست ته دنده ورکړې ده چې له یوې خوا د ښوونځیو د لوست دکتابونو دکمښت او نشتوالي ستونزه لرې کړي او له بل پلوه د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د علمي او فرهنګي پالیسۍ اوموخو په رڼا کې د داسې واحد تعلیمي نصاب په ترتیبولو بوخت شي چې د هېواد اوسنیو او راتلونکو اړتیاوو ته ځواب ووایي.

زموږ نوی تعلیمي نصاب چې د افغاني ټولنې له غوښتنو او نړیوالو معیارونو سره عیار شوی، موخه یې د هېواد د بچیانو اسلامي اوعلمي روزنه اوزده کړه ده چې په نتیجه کې یې دپوهنې د زده کوونکو، ماشومانو، تنکیوځوانانو او ځوانانو په ذهن کې سالم تفکر پیاوړی او هغوی د نوې پوهې له ارزښتونو سره آشنا کوي. زموږ د هېواد ځوانان باید متدین مسلمانان، هیوادپال، بشرپال او د پوهې او کمال پر ګاڼه سمبال انسانان وروزل شي ترڅو د علومو د پرمختیا او معاصر تمدن له پرمختګ سره اشنایي ترلاسه کړي او په ټینګ هوډ سره له هغو نوو او مثبتو بدلونونو څخه چې رامنځته شوي دي ګټه واخلي. دنوی افغانستان او د یوې سوکاله ټولنې د جوړونې په موخه د ساینس او تکنالوژۍ له بدلونونو سربېره باید د انساني علومو له بنسټونو، د بشري حقونو د ساتنې، سولې، هېوادپالنې، ملي یوالي، د استوګنې د سالم چاپیریال د ساتنې اوسوله ییز ګډ ژوند څخه خبر وي. د جهل له تورتم او د مخدره توکو له تولید او قاچاق سره مبارزه د خپلوزده کړوپه سرکې په پام کې ونیسي.

مونږ له رښتینو، زړه سواندو اوتجربه لرونکو ښوونکو څخه چې د نوي تعلیمي نصاب په تطبیق کې د هېواد د بچیانو د زده کړې او روزنې سترمسؤلیت پر غاړه لري او دغه راز د هېواد د پوهنې د برخې له نورو علمي، فرهنګي شخصیتونو او پوهانو څخه هیله لرو چې د خپلو رغنده نظرونو او وړاندیزونو په وړاندې کولو سره زموږ له لیکوالو سره د درسي کتابونو په لیکلو او پیاوړي کولو کې مرستې وکړي. په همدې ډول له تمویلوونکو هېوادونو او درنو سازمانونو (د امریکا د متحده ایالتونو د نړیوالې پراختیا اداره، دانیدا، یونیسف، نړیوال بانک اویونیسکو)څخه چې دکتابونو په تالیف او چاپولوکې یې د پوهنې له وزارت سره مادي اوتخنیکي مرسته کړې ده مننه کوو. له ټولو ګرانو زده کوونکو، درنو ښوونکو او محترمو میندو پلرونو څخه هیله کوو چې د درسي کتابونو په ښه ساتنه کې خپله مرسته ونه سپموي.

**فاروق وردک**

دافغانستان داسلامي جمهوریت دپوهنې وزیر

## فهرست

| ګڼه | عنوانونه | مخ |
|---|---|---|
| | **لومړي فصل: له (۱–۱۰۰) پورې د عددونو شمیرل او ترتیب کول** | |
| ۱– | د عدد مفهوم ......................................... | ۱ |
| ۲– | متناوب شمېرل ( دوه، دوه،پنځه، پنځه.. زیاتول ).......... | ۳ |
| ۳– | دعدد دمفهوم تمرین ................................. | ٦ |
| ۴– | تر ۱۰۰ پورې د عددونو ترتیب او پرتله کول ............ | ۸ |
| ۵– | تر ۱۰۰ پورې د عددونو ترتیب ......................... | ۱۰ |
| ٦– | د متناوب شمېرلو مشق او تمرین ..... .................. | ۱۱ |
| ۷– | مخ کې، وروسته، منځ کې، زیات، لږ .................. | ۱۲ |
| ۸– | توصیفي یا ترتیبي عددونه .................................. | ۱۴ |
| | **دوهم فصل: له (۱–۱۰۰) پورې د عددونو مقامي قیمت او عملیې** | |
| ۹– | د مقامي قیمت مفهوم ......................................... | ۱۵ |
| ۱۰– | د عددونو جمع او تفریق تر۹۹ پورې ..................... | ۱۷ |
| ۱۱– | د جمعې په عملیې کې د بدلون (تبدیلی) قانون ............. | ۱۹ |
| ۱۲– | د جمعې د درېو جزو جمع کول ............ .... ...... | ۲۳ |
| ۱۳– | تفریق ....................................... . .......... | ۲۵ |
| ۱۴– | تفریق عبارتي پوښتنې ...................... ............ | ۲۷ |
| ۱۵– | دجمعې اوتفریق ترمنځ اړیکې ............................. | ۲۹ |
| ۱٦– | دجفت اوتاق ترمنځ اړیکې ................................. | ۳۰ |
| | **درېیم فصل: د دوه رقمي عددونو جمع** | |
| ۱۷– | د یوه رقمي عدد جمع کول له دوه رقمي عددونو سره چې حاصل ولري. | ۳۵ |
| ۱۸– | ددوو، دوه رقمي عددونو جمع کول چې حاصل ولري ........... | ۳۷ |
| ۱۹– | دجمعې د درېو جز جمع کول چې حاصل ولري.......... | ۴۰ |

## څلورم فصل: د دوه رقمي عددونو تفریق


۲۰- له دوه رقمي عدد څخه د یوه رقمي عدد تفریق کول چې په هغه کې پور (قرض) اخیستل دي ........................................................... ۴۴

۲۱- له دوه رقمي عددونو څخه ددوه رقمي عدد تفریق (د پور اخستلو په صورت کې)۴۶

۲۲- د جمعې او تفریق د عملیو آزمویل د یوبل په واسطه......... ۵۱

۲۳- د تفریق د عملیې آزموینه .................................. ۵۲

۲۴- د عددونو جمع کول د چوت په واسطه ..................... ۵۳

۲۵- د عددونو تفریق د چوت په واسطه ......................... ۵۵


## پنځم فصل: له (۱۰۰-۱۰۰۰) پورې د عددونو لوستل او لیکل


۲۶- له (۱۰۰-۱۰۰۰) پورې د عددونو لوستل او لیکل......... ۵۷

۲۷- لس ګوني (لسیز) اوسلګوني (سلیز) ..................... ۵۸

۲۸- سلیز، لسیز او یویز ..................................... ۶۰

۲۹- تر ۱۰۰۰ پورې د عددونو مقامي ارزښت ................. ۶۳

۳۰- مخ کې، وروسته، منځ کې ................................ ۶۷

۳۱- د عددونو پرتله ........... ......................... ۶۸

۳۲- د عددونو ترتیب نظر په مقامي ارزښت سره ............. ۶۹


## شپږم فصل : د درې رقمي عددونو جمع اوتفریق


۳۳- د خو سل ګونو جمع کول ...... ...................... ۷۲

۳۴- د یوه درې رقمي عدد جمع کول له یوه درې رقمي عدد سره چې د یویز اوسلیز رقمونه یې صفر وي................................................. ۷۴

۳۵- د درې رقمي عددونو جمع کول ....................... . ۷۵

۳۶- د درې رقمي عددونو جمع کول چې حاصل ولري........ ۷۷

۳۷- د درې رقمي عددونو تفریق د قرض(پور) اخستلوپرته....... ۸۰

۳۸- د درې رقمي عددونو تفریق په پور(قرض) اخستلو سره .. ۸۱

٣٩- د یوه درې رقمي عدد تفریق د یوه درې رقمي عدد  څخه چې یویز او لسیز یې صفر وي . ........................................ ٨۴

### اووم فصل: د عددونو د ضرب او ویش عملیې

۴٠- د هغو عددونو جمع کول چې مساوي اجزاوي ولري (تکراري جمع) ٨٩
۴١- د ضرب نښې ........................................ ٩١
۴٢- د کارتونو جوړول........................................ ٩۴
۴٣- په ضرب کې د بدلون خاصیت ......... ............. ٩٦
۴۴- په عمودي شکل ضرب کول ......... .............. ٩٨
۴۵- د عبارتي پوښتنو په حل کې د ضرب د عملیې کارول ........ ١٠٠
۴٦- د شکلونو څخه په کار اخیستلو سره د ضرب ښوونه..... ... ١٠١
۴٧- د یوه رقمي  عدد ضربول په دوه رقمي عدد کې...... ١٠۴
۴٨- د شکلونو په کار اخیستلو سره د ضرب ښوونه .... .. ١٠٧
۴٩- د ضرب په عملیه کې د (٠) صفر خاصیت ........... ١٠٨
۵٠- د ګروپونو جوړول ....... ......................... ١٠٩
۵١- د مساوي ګروپونو جوړول ......... ................. ١١١
۵٢- ویش ........................................ ١١٣
۵٣- د ضرب او ویش ترمنځ اړیکې (رابطه).............. ١٢٠
۵۴- د یوه عدد وېشل په خپل عدد باندې .............. ١٢١
۵۵- د یوه عدد وېشل په (١) باندې .................... ١٢٢

### اتم فصل: د اندازه کولو واحدونه

۵٦- غیر معیاري واحدونه ............................. ١٢٣
۵٧- معیاري واحدونه (متر، سانتي متر او ملي متر) ..... ١٢۴
۵٨- د ټوټه خطونو د اوږدوالي اندازه کول د خط کش په واسطه ١٢٦

## نهم فصل: هندسه

٥٩- د هندسي شکلونو پېژندنه ........................ ١٢٨

## لسم فصل: د کسر پېژندل په عملي توګه

٦٠- په هندسي شکلونو کې کسر ........................ ١٣٣
٦١- د يوې کسري برخې ښوونه ........................ ١٣٧

# لومړی فصل

# له (۱-۱۰۰) پورې د عددونو شمېرل او ترتیب کول

## لومړی لوست

## د عدد مفهوم

هدف: د عددونو د شمېرلو، لوستلو اوليکلو تقویت.

| ۰ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| صفر | یو | دوه | درې | څلور | پنځه | شپږ | اووه | اته | نه | لس |


______


______


______


______

### په لاندې هرچوکاټ کې څو شکلونه دي؟







______ هندواني ______ کتابونه ______ څوکۍ ګانې

______ مڼې ______ پنسلونه ______ توپونه

**لاندې پوښتنو ته ځواب ووایاست:**

۱- کوم ډول میوه زیاته ده؟ هندواني مڼې.

۲-کوم یو یې لږ دي؟ پنسلونه توپونه.

۳- کوم یو یې ډېر زیات دي؟ څوکۍ ګانې کتابونه مڼې

۴- کوم یو یې ډېر زیات دي؟ کتابونه څوکۍ ګانې پنسلونه

۵- ستاسو په ټولګي کې څوتنه نجونې دي؟ __________

۶- ستاسو په ټولګي کې څو تنه هلکان دي؟ __________

۷- کوم یو یې د هغو څخه لږ شمېر لري؟ نجونې هلکان

## کورنۍ دنده:

په هر چوکاټ کې د شیانو شمېر حساب کړئ، اووروسته د لاربنود په ډول کار وکړئ.

۱- د لاندې چوکاټ په سپینه برخه کې د رسم شوو شکلونو په ډول لږ شکلونه رسم کړئ او ووایاست چې ټول څو شکلونه دي؟



۲- د چوکاټ په سپینه برخه کې د درکړل شوو شکلونو څخه زیات شمېر رسم کړئ اوهغــه ټول حساب کړئ او شمېر یې ولیکئ.



۳- د چوکاټ په سپینه برخه کې د درکړل شوو شکلونو سره مساوي شمېر رسم کړئ. ټـــول حساب کړئ او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.



۴- د خپلې خوښې یو شکل چې له ٦ څخه زیات خو له ۱۰ څخه لږ وي په خپلو کتابچو کې رسم کړئ.

# دوهم لوست

## متناوب شمېرل ( دوه، دوه، پنځه، پنځه.... زیاتول)

هدف: په دې لوست کې زده کوونکي باید متناوب شمېرل زده کړي.

۱– د خپلو ټولګیوالو له سترګو څخه په کار اخیستوسره ۲،۲ زیات کړئ او عددونه يې وليکئ.



____ ____ ____ ____ ____ ____ ٦ ٤ ٢



ټولې____ سترګې ____ ____ ____ ____

څوګوتې؟

۲– د خپلو ټولګیوالود لاسد ګوتو د ۵ په زیاتولو سره عددونه په لاس راوړئ او ويې ليکئ.



ټولې... ګوتې

____ ____ ____ ١٥ ١٠ ٥

له ښي خوا څخه کيڼ لوري ته کوم عددونه چې پاتې دي په تـــشو ځايونوکې يې وليکئ.

۱- ۲، ____، ____، ۵، ٦

۲- ۰، ____، ۲، ____، ۴

۳- ۴، ۵، __، ۷، ____

۴- ۲، ۴، __، __، ۱۰

۵- ۱، ۳، __، ۷، ____

٦- ۰، ۳،__، ____

له ښي خواڅخه کيڼ لوري ته تش ځايونه د مناسبو عـــددونو په واسطه ډک کړئ.

۱. ۵، ۴، __، ۲، __.

۲. ۱۰، ۹، ۸، __، __، ____

۳. __، ٦، ۵، ____، ۳

۴. ۱۲، ۱۰، ____، ٦، ____، ۲

۵. ۱۱، ۹، __، ۵، ____

٦. __ ۱۰، ۷، ۴، ____

**کورنۍ دنده:**

۱- لاندې جدول خپلو کتابچوته نقل او د حل شوي مثال نه په کار اخیستو سره پوښتنه حل او رنګ کړئ.

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ |
| ۱۱ | ۱۲ | ۱۳ | ۱۴ | ۱۵ | ۱۶ | ۱۷ | ۱۸ | ۱۹ | ۲۰ |
| ۲۱ | ۲۲ | ۲۳ | ۲۴ | ۲۵ | ۲۶ | ۲۷ | ۲۸ | ۲۹ | ۳۰ |
| ۳۱ | ۳۲ | ۳۳ | ۳۴ | ۳۵ | ۳۶ | ۳۷ | ۳۸ | ۳۹ | ۴۰ |
| ۴۱ | ۴۲ | ۴۳ | ۴۴ | ۴۵ | ۴۶ | ۴۷ | ۴۸ | ۴۹ | ۵۰ |
| ۵۱ | ۵۲ | ۵۳ | ۵۴ | ۵۵ | ۵۶ | ۵۷ | ۵۸ | ۵۹ | ۶۰ |
| ۶۱ | ۶۲ | ۶۳ | ۶۴ | ۶۵ | ۶۶ | ۶۷ | ۶۸ | ۶۹ | ۷۰ |
| ۷۱ | ۷۲ | ۷۳ | ۷۴ | ۷۵ | ۷۶ | ۷۷ | ۷۸ | ۷۹ | ۸۰ |
| ۸۱ | ۸۲ | ۸۳ | ۸۴ | ۸۵ | ۸۶ | ۸۷ | ۸۸ | ۸۹ | ۹۰ |
| ۹۱ | ۹۲ | ۹۳ | ۹۴ | ۹۵ | ۹۶ | ۹۷ | ۹۸ | ۹۹ | ۱۰۰ |

# دریم لوست

هدف: د عدد د مفهوم تمرین.

**د هرلیک ښي خواته یو عدد لیکل شوی دی د هغه په شمېر دایـــرې رنګه کړئ او د هغو دایرو شمېر چې رنګ شوې نه دي کیڼې خواتـــه ولیکئ د حل شوي مثال څخه کار واخلئ.**




**د هرې کرښې ښي خواته یو عدد لیکل شوی دی د هغه په شمېر شکلونه رنګه کړئ د شکل نوم واخلئ او د هغو شکلونو شمېر چې رنګ شوي نـــه دي کیڼې خواته ولیکئ. د حل شوي مثال څخه کار واخلئ.**



## کورنۍ دنده:

د شیانو څخه د لس ګونو ګروپونو جوړول شمېرل آسانه کــوي او دا یو ډول تفریح ده.

له شیانو څخه لس ګونه ګروپونه جلا اوکرښه ورڅخه تاو کړئ، تش ځایونه ډک کړئ او پوښتنو ته ځواب ووایاست.



____ لسیز او ____ یویز ____ کیږي



____ لسیز او____ یویز ____ کیږي





☐ لسیز د چرګانو او ____ نور ټول ____ چرګان کیږي.

☐ لسیز د پیشوګانو او ____ نور ټول ____ پیشوګان کیږي.

کوم ګروپ زیات دی چرګان که پیشوګاني

څومره زیات دي؟ ________

# څلورم لوست

## تر ۱۰۰ پورې د عددونو ترتیب او پرتله کول

هدف: زده کوونکی ډیر او لږ عددونه وپیژني او د هغو له مخې دې ترتیب(پرله پسې توب)وکولای شي.

شکلونو ته وګورئ د هغو د هریوه د شیانو شمېر په خپلو کتابچو کې ولیکئ او هر هغه عدد چې له ۱۴ څخه کوچنی دی تر شاوخوا یې یوه مربع رسم کړئ.



______ ______ ______ ______

شکلونوته وګورئ د هغو د هر یوه د شیانو شمېر په خپلو کتابچو کې ولیکئ او هر هغه عدد چې له ۱۵ څخه زیات دی دایره ترې تاوه کړئ.



______ ______ ______

له آسونوڅخه څومره هېلۍ زیاتې دي؟ ______

له هېلیو څخه څومره وزې کمې دي؟ ______

کوم یو یې زیات دي وزې که آسونه، څومره؟

**د زده کوونکو فعالیت:**

**په خپل ګروپ کې کار وکړئ هر ګروپ یا ډلې ته دعدد یو شمېر کارتونه چې له صفر څخه تر ۲۰ پورې ور باندې لیکل شوې دې ورکول کیږي.**

**۱– په وار سره کار وکړئ.**

**۲– هر زده کوونکی دې له کڅوړې څخه یو کارت راوباسي.**

**۳– زده کوونکي دې عددونه له ډېرو لږو څخه د لوی عدد پورې ترتیب کړي.**

**۴– د هر دور عدد په جدول کې (یاد داښت) کړئ.**

**د عددونو کارتونه**

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| لومړی دور | | | | | |
| دوهم دور | | | | | |
| دریم دور | | | | | |

**د جدول په برخه کې لاندې پوښتنو ته چې ستاسو په کتابچو کې یا د ټولګي په دړه باندې لیکل شوي دي ځواب ووایاست:**

**۱– خپل جدول ته وګورئ په هر دوره کې له ۱۳ څخه څو عددونه لوی دي؟**

**۲– د ټولو هغو عددونو نه چې له ۱۱ څخه کوچني دي کرښه تاوکړئ.**

**۳– ټول هغه عددونه چې له ۱٦ څخه لوی دي ورڅخه یوه مربع تاوه کړئ.**

**۴– آیا ګومان کوئ چې ټول عددونه به له ۱٦ څخه لږ وي؟**

**۵– له ۱٦ څخه زیات او لږ عددونه په جلاء جلاء توګه ولیکئ او بیا کوشش وکړئ او ووینئ چې ستاسو اټکل صحیح دی که نه؟**

# پنځم لوست

## تر ۱۰۰ پورې د عددونو ترتیب

هدف: زده کوونکي عددونه دمقامي قیمت په درلودلو سره په پرله پسي توګه ترتیب کړاي شي.

د فعالیت له یوه ګڼون کوونکي سره دې کار وکړي او هغه عددونه چې پـــه جدول کې لیکل شوي نه دي تر ۱۰۰ پورې بشپړ کړئ.

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | | | | | | ۸ | | |
| | | | ۱۴ | | ۱٦ | | | | |
| | ۲۲ | | | | | | | | ۳۰ |
| | | ۳۳ | | | | ۳۷ | | | |
| | | | | | | ۴۷ | | ۴۹ | |
| | | ۵۳ | | ۵۵ | | | | | |
| | ٦۲ | | | | | | | ٦۹ | |
| | | | ۷۴ | ۷۵ | | | | | |
| ۸۱ | | | | | ۸٦ | | | | |
| | | | | | | | ۹۸ | | ۱۰۰ |

لاندې پوښتنو ته ځواب ووایاست.

۱. کوم عدد له ۳۵ څخه دیوه په اندازه زیات دی؟ ______

کوم عدد له ۳۵ څخه د یوه په اندازه لږ دی؟ ______

۲. کوم عدد له ۲۷ څخه د دوو په اندازه زیات دی؟ ______

کوم عدد له ۲۷ څخه د دوو په اندازه لږ دی؟ ______

۳. کوم عدد له ۵۰ څخه د لسو واحدو په اندازه زیات دی؟ ______

کوم عدد له ۵۰ څخه د لسو واحدو په اندازه لږ دی؟ ______

۴. کوم عدد له ۷۰ څخه د شلو واحدو په اندازه زیات دی؟ ______

کوم عدد له ۷۰ څخه د شلو واحدو په اندازه لږ دی؟ ______

۵. په تشو ځایونو کې د (> یا <) مناسبه نښه ولیکئ.

۹۳ (>) ۹۷　　۴۷ ○ ۳۵　　۷۷ ○ ۲۳　　٦۸ ○ ۸۲

# شپږم لوست
## د متناوب شمېرلو مشق او تمرین

هدف: زده کوونکي په آساني سره وکولای شي د دوه، دوه، درې، درې عددونه زیات کړي او د یوه، یوه عددونو په زیاتولو بسنه ونکړي.



۲۴

۲۴ له ۲۵ څخه مخ کې راځي



۲۵

۲۵ د ۲۴ او ۲۶ په منځ کې راځي



۲۶

۲۶ د ۲۵ څخه وروسته راځي

---

د خپل فعالیت د ګډون کوونکو سره یوځای کار وکړئ ښايي تاسو کوچنۍ ډبرې وکاروئ هغه عددونه چې لیکل شوي نه دي وېې لیکئ.

۱- ۳۰، ۳۱، ۳۲ ‏ ‏ ۶۵، ۶۶ ـــــــ ‏ ‏ ـــــــ، ۱۳، ۱۴

۲- ـــــــ، ۴۶، ۴۷ ‏ ‏ ۷۱، ـــــــ، ۷۳ ‏ ‏ ۸۳، ۸۴، ـــــــ

۳- ۹۶، ۹۷، ـــــــ ‏ ‏ ـــــــ، ۲۸، ۲۹ ‏ ‏ ۵۸، ۵۹، ـــــــ

کوچنۍ ډبرې وکاروئ د خپل فعالیت کوونکو سره ګډ کار وکړئ. متناوب شمېرل دکوچنۍ ډبرو په ایښودلو کار وکړئ. تر سلو پورې عددونه په جدول کې ولیکئ. د هر عدد لپاره چې تاسو یې شمېرئ مشق او تمرین سرته ورسوئ. د مثال په توګه تاسو په جګ غږ سره ووایاست (۲، ۴، ۶، ۸...) او کوچنۍ ډبرې په عددونو باندې یعنې په (۲، ۴، ۶، ۸...) کېږدی د خپل فعالیت ګډون کوونکي ارزیابي کړئ. د۳، ۴، ۵ او نورو په زیاتولو سره د متناوب شمېر عددونو فعالیت تکرار او سرته ورسوئ.

---

**کورنۍ دنده:** د لاندې لارښود په کارولو سره غوښتل شوی عدد پیداکړئ.

۱-لارښوونه: غوښتل شوی عدد د ۱۰ او ۸۰ په منځ کې دی.

۲-لارښوونه: غوښتل شوی عدد یوله لاندې عددونو څخه دی.

۱۳، ۳۰، ۲۳، ۸۰، ۸۳، ۶۷، ۵۲

۳-لارښوونه: غوښتل شوی عدد له ۵۵ څخه لږ کم دی.

۴-لارښوونه: کوم وخت چې تاسو له صفر (۰) څخه پیل کوئ د لس، لس په زیاتولو سره د غوښتل شوي عدد نوم اخلئ. غوښتل شوي عدد له ـــــــ څخه عبارت دی.

# اووم لوست

## مخ کې، وروسته، منځ کې، زيات، لږ

**هدف:** په دې لوست کې دې زده کوونکي د يوه عدد مخ کې او وروسته عددونه وپېژني.

د ۵ کتارونو کتابونو رسم چې د ۱۸، ۱۹، ۲۰، ۲۱ او۲۲
عددونه د هغو کتارونه راښيي.




۱۹ د ۲۰ څخه مخ کې راځي.
۱۹ د۱۸ او ۲۰ په منځ کې دی.
۱۹ د۱۸ څخه وروسته راځي.
۱۹ له ۱۸ څخه زيات دی.
۱۹ له ۱۸ څخه لږ دی.

جوړه جوړه کار وکړئ پوښتنوته ځواب ووایاست.

۱. هغه عدد وليکئ چې مخ کې راځي.

۳۱ ۳۲ ۳۳ ۳۴

۵۱ ۵۰ ۴۹ ___

۲. هغه عدد وليکئ چې وروسته راځي.

۸۵ ۸۶ ۸۷ ___

۵۱ ۵۲ ۵۳ ___

۳. هغه عدد وليکئ چې په منځ کې راځي.

۱۸ ۱۹ ___ ۲۱

۶۲ ___ ۶۴ ۶۵

د لاندې ترتيب شوو عددونو په اړه په پورتني چوکاټ کې دکارول شوو مثالونو نــه
په کتې اخيستو سره خبرې اترې وکړئ.

۷۲ ۷۳ ۷۴ ۷۵ ۷۶ ۷۷

**لاندې عددي خط په نظر کې ونیسئ او هرې پوښتنې ته ځواب ووایاست:**




**۱.هغه عدد چې له ۷۲ څخه مخ کې دی ترې لاندې خط وکاږئ.**

**۲. له هغه عدد نه دایره راتاو کړئ چې له ۷۹ څخه وروسته دی.**

**۳. دهغه عدد له شاوخوا نه خط تاوکړئ چې د ۷۴ او ۷۵ په منځ کې دی.**

**۴.په ټولو هغو عددونو باندې د (×) نښه کېږدی چې د ۷۵ او ۸۰ په منځ کې دی.**

**لاندې پوښتنو ته ځواب ووایاست:**

**۱. له ۴۶ څخه مخ کې کوم یو عدد دی؟**

**۲. کوم یو عدد د ۳۷ او ۳۹ په منځ کې دی؟**

**۳. هغه عدد چې له ۵۵ څخه وروسته راځي کوم دی؟**

**۴.کوم عدد د یوه په اندازه له ۹۴ څخه مخ کې دی؟**

**د زده‌کوونکي فعالیت:** ښوونکی باید یو عدد په دړه باندې ولیکي او د (مخ کې)، (وروسته)، (منځ کې)، (زیات)، او (لږ) په ډول کلمې وکاروي،ترڅو چې وکولای شي دعددونو په هکله خبرې وکړي.

**کورنۍ دنده:** لاندې معما حل کړئ.

**۱. زه د ۳۸ او ۴۲ په منځ کې یم.**

**زه درې لسیزې لرم.**

**زه څوم نمره یم؟ ــــــــ**




**۲. له خپله ځانه یوه عددي معما جوړه کړئ چې سبا ته هغه وښیاست.**

# اتم لوست

## توصيفي(ترتيبي)  عددونه

هدف: زده کوونکي دې پوه شي چې لومړی دوهم، دریم... د يوه شي مقام او منزلت راښيئ.

په دې لوست کې مونږ تر ۲۰ پورې ترتيبي عددونه استعمالوو ترڅو د شـــيانو حالت او مقام څرګند کړي.


اول


دوهم


دريم


څلورم


پنځم


شپږم


اووم


اتم


نهم


لسم

که چېرې يوه بله خزنده ورسره جمع کړئ خزنده به په کوم مقام کې وي؟




١. پنځم موټر په سره رنګ، رنګ کړئ.
٢.نهم موټر ته شين رنګ ورکړئ.
٣.شپږم موټر ته زيړ رنګ ورکړئ.
۴.دوهم موټر ته ارغواني رنګ ورکړئ.
۵.اووم موټر ته  نصواري رنګ ورکړئ.
٦.دريم موټر ته آبي رنګ ورکړئ.
٧. د شپږم موټر مخې ته څو موټرونه دي؟
٨.د څلورم موټر نه مخکې څو موټرونه دي؟
٩.د پنځم موټر څخه وروسته څو موټرونه دي؟
١٠.د اتم موټر  شاته څو موټرونه دي؟

# دوهم فصل

# له (۱–۱۰۰) پورې د عددونو مقامي قیمت او عملیې

## نهم لوست

### د مقامي قیمت مفهوم

هدف: زده کوونکي باید په مرتبو کې درقم په ارزښت پوه شي.

**له لاندې شکلونو څخه د لسیزو بنډلونه جلاء کړئ او د هغو د لسیزو ترشاوخوا خط وکاږئ بیا اړوند عددونه د جدول د یویزو او لسیزو په خانو کې ولیکئ. د مثال څخه پیروي وکړئ.**



| یویز | لسیز |
| --- | --- |
| ۴ | ۲ |

**پورته حل شوی مثال په پام کې ونیسئ د شکل له مخې لسیز او یویز جلاء کړئ او اړونده عدد په جدول کې ولیکئ.**



| یویز | لسیز |
| --- | --- |
| | |



یویز | لسیز



یویز | لسیز



یویز | لسیز



یویز | لسیز

**کورنۍ دنده:** دوه رقمي عددونه درکړل شوي دي وواياست په هغو کې څو يويز او څو لسيز دي؟

| | | | |
|---|---|---|---|
| ٢٦ | ٣١ | ٦٢ | ٨٢ |
| ٣٨ | ۴٩ | ٧۴ | ٩٠ |
| ٥١ | ٥٧ | ٨٠ | ٩٩ |

# لسم لوست
## د عددونو جمع اوتفريق تر ۹۹ پورې

هدف: زده کوونکي دې دوه رقمي عددونه يوله بله سره جمع او هم دې له دوه رقمي عدد څخه دوه رقمي عدد تفريق کړای شي.

لاندې حل شوی مثال په نظر کې ونيسئ دوه رقمي پوښتنې يوله بله سره جمع کړئ.

۱- ۱۲ چوغکې په يوې ونې کې ناستې وې. ۲۴ چوغکې نورې له هغوې سره يوځای شوې په ونه کې ټولې څو چوغکې دي د ۲۴ زياتوالی په ۱۲ باندې داسې ليکلای شو.

```
  ۱ ۲   ........◄ د جمعې لومړی جز
+ ۲ ۴   ........◄ د جمعې دوهم جز
  ۳ ۶   ........◄ د جمعې حاصل
```

۲-د شکل له مخې د جمعې اجزاوې او د جمعې حاصل معرفي کړئ او د هغوې عددې افاده وليکئ او همدارنګه درکړل شوې پوښتنې جمع کړئ.




| | | |
|---|---|---|
| ۴۷ + ۲۰ | ۴۰ + ۳۸ | ۳۱ + ۱۵ |
| ۸۰ + ۱۶ | ۷۴ + ۲۵ | ۶۳ + ۱۵ |

**کورنۍ دنده:**

**د دې عمليو د جمعې حاصل پيداکړئ د جمعې اجزاوې او د جمعې حاصل معرفي کړئ.**

**۱- ۱۴ + ۲۱ = ______ ۲- ۱۳ + ۲۶ = ______**

**۳- ۱۸ + ۲۰ = ______ ۴- ۱۷ + ۲۲ = ______**

**۵- ۲۱ + ۲۷ = ______ ۶- ۲۲ + ۲۳ = ______**

**ګرانو زده کوونکو راځئ چې د لومړی پوښتنې لپاره يوه کيسه جوړه کـــړو او هغه حل کړو.**

**زرمينې په خپل جيب کې ۱۴ افغانۍ درلودې او مور يې دښوونځي دبکسې لپاره ۲۱ افغانۍ نورې ورکړي اوس زرمينه څو افغانۍ لري.**

**حل:**

$$\begin{array}{r} ۲۱ \\ +\ ۱۴ \\ \hline ۳۵ \end{array}$$

**تاسو ددويمې ګڼې پوښتنې لپاره يوه عبارتي کيسه جوړه کړئ او حل يې کړئ.**

# يوولسم لوست

## د جمعې په عمليې كې د بدلون (تبديلي) قانون

هدف: زده كوونكي بايد پوه شي كه چېرې د جمعې د اجزاؤ ځايونه بدلون ومومي د جمعي حاصل بدلون نه كوي.

كه چيرې دعددونو د جمعې كولو په وخت كې د عددونو ځايونه سره بدل كړو د هغو د جمعې په حاصل كې كوم بدلون نه راځي. دځايونو دا بدلون په جمع كې د بدلون د قانون په نامه يادېږي.

تمرين يې كړئ اوپه خپله هغه ووينئ:



۵

+ ۴

---

۹

۵ + ۴ = ۹



۴

+ ۵

---

۹

۴ + ۵ = ۹

اوس وواياست چې دعددونود جمعې په حاصل كې څه بدلون راغلــى دى. څرنګه چې د جمعې په حاصل كې بدلون نه دى راغلى نو ويل كيږي چې د جمعې د اجزاؤ د ځايونو بدلون د جمعې په حاصل كې بدلون نه راوړي.

عددي جملې په دوه ډوله وليكئ.



٢

+ ٣

---

۵

____ + ____ = ____

____ + ____ = ____

**عددي جملې وليکئ:**

۱. ۷ هلکان د پتنګ الوزونې لوبې کوي.
۵ هلکان نور له هغوی سره یوځای شول.
ټوله څو هلکان د پتنګ الوزونې لوبې کوي؟
هلکان ـــــ = ـــــ + ـــــ

۲. ۵ هلکان د غرمې ډوډۍ خوري ۷ هلکان نور له هغوی سره یوځای شول. ټول څو هلکان دي چې د غرمې ډوډې خوري.
هلکان ـــــ = ـــــ + ـــــ

۳. تش ځایونه په مناسبه عددو سره ډک کړئ د جمعې داجزاؤ د هرې جوړې د جمعې حاصل یوله بله سره پرتله کړئ او ووایاست چې څه توپیر وینئ.

۱–ګڼې بدلون:
۱۸ = ـــــ + ۶
۱۸ = ـــــ + ۱۲

۲– ګڼې بدلون:
۴۲ = ـــــ + ۳۲
۴۲ = ـــــ + ۱۰

| | | | |
|---|---|---|---|
| □ | □ | □ | □ |
| + □ | + □ | + □ | + □ |
| □ | □ | □ | □ |

۳- ګڼې بدلون:

۸۵ = ___ + ۷۲

۸۵ = ___ + ۱۳

۴- ګڼې بدلون

۷۸ = ___ + ۵۴

۷۸ = ___ + ۲۴



**کورنۍ دنده:**

**لاندې هر یوه شکل ته عددي جمله ولیکئ.**

۱.



___ = ___ + ___

۲.



___ = ___ + ___

**مشق او تمرین:**

تاسو پوهیږئ چې ٦ له ٥ څخه زیات او داسې ٥ > ٦ لیکل کیــږي. او هم پوهیږئ چې ٧ له ٨ څخه لږ او داسې ٨ > ٧ لیکل کیږي د جمعې په عملیه کې په دې توګه په کار وړل کیږي.

مثال –

| | | |
|---|---|---|
| ۷ + ۸ | □ | ۹ + ۸ |
| ۱۵ | > | ۱۷ |

د پورته مثال څخه په کار اخستنې سره د لاندې پوښتنو په تشو ځــایونو کې مناسب عددونه اویا د <، > نښې ولیکئ.

| | |
|---|---|
| ۳۵ + ۱۲ > □ + ۲۹ | ۳۰ + ۱۲ □ ۱۴ + ۲۵ |
| ۳۲ + ۲۵ < □ + ۳۸ | ۱۸ + ۴۰ □ ۳۷ + ۲۰ |
| □ + ۳۲ > ۳۲ + □ | ۲۲ + ۳۳ □ ۲۳ + ۴۵ |

# دولسم لوست

## د جمعې د دریو جزو جمع کول

**تاسو کولای شئ چې دوه عددونه سره جمع کړئ اوس راځـــئ چـــې درې عددونه سره جمع کړو.**

**مونږ کولای شو دا عددونه په کوم ډول چې غواړو سره جمع کړو. د جمع کولو لپاره عددونه ګروپ کوو.**

**د مثال په توګه:**

۲ + ۴ + ۵ = ۱۱ ← ۶ + ۵ = ۱۱

۲ + ۴ + ۵ = ۱۱ ← ۷ + ۴ = ۱۱

۲ + ۴ + ۵ = ۱۱ ← ۹ + ۲ = ۱۱

لومړی کوم دوه عددونه جمع کوو؟ ولې؟

**په دې تمرین کې لومړی هغه دوه عددونه وټاکئ چې یوله بله سره یې جمع کوئ د جمعې حاصل یې ولیکئ بیا وروسته د جمعې حاصل له دریم عدد سره جمع کړئ.**

۳ + ۵ + ۳ = ۱۱ ← ☐ + ☐ = ۱۱

۷ + ۱ + ۳ = ۱۱ ← ☐ + ☐ = ۱۱

۴ + ۶ + ۱ = ۱۱ ← ☐ + ☐ = ۱۱

**دزده کوونکوفعالیت:** زده کوونکي دې ۳د تنو په ګروپ جوړولو سره کار وکړي او هر زده کـــوونکي ته دې دکارتونو یوه قطۍ چې په هغه باندې ۱ – ۹ نمره لرونکې وي هر زده کوونکی دې یو کـــارت لـــه قطۍ څخه راوباسي او نورو زده کوونکو ته دې وښیي.
زده کوونکي دې د۳ عددونو، عددي جمله ولیکي لومړی په زړه پـــورې ددوو غوښـــتل شـــوئ عـــددونو مجموعه پیداکوي وروسته دحاصل شوي عدد، عددي جمله له دریم عدد سره لیکي او د هغـــوی د جمعـــې حاصل پیداکوي.

**کورنۍ دنده:**

د دې لاندې عددونو د جمعې حاصل پیداکړئ او هغه عددونه چې لــومړی یې جمع کوئ د هغوی په شاوخوا دایره وکاږئ.

۱–

| | | |
|---|---|---|
| ۲۴ | ۱۷ | ۵۱ |
| ۳۲ | ۳۱ | ۱۶ |
| + ۱۲ | + ۵۱ | + ۲۲ |
| ۴۲ | ۰ | ۱۵ |
| ۲۲ | ۲۴ | ۳۳ |
| + ۳۲ | + ۳۵ | + ۲۱ |

۲– ____ = ۲۳ + ۱۲ + ۲۱     ____ = ۳۱ + ۲۵ + ۱۲

# دیارلسم لوست

## تفریق

هدف: د تفریق د عملیې د اجراء کولو تقویت (د همجنسو ګروپونو جلاء کول).

راځئ چې له شکلونو څخه کار واخلو ګروپونه جلا کړو او عددي جملې ولیکو



د مثال په توګه په یوه ونه کې ۸ چوغکې دي له هغې ونې ۲ چوغکې والوتلې اوس په ونه کې څو چوغکې پاتې شوي؟ ۶ = ۲ – ۸

اوس لیدل کیږي چې په ونه کې ۶ چوغکې پاتې دي چې دا ۶ د فرق یا د تفریق د حاصل په نامه یادیږي.

تمرین یې کړئ:

۱– له یوه ساتونکي سره ۱۵ بایسکلونه شته دي. ۹ بایسکلونه خپلو خاوندانو یوړل څو بایسکلونه پاتې دي؟

بایسکلونه ____ = ____ – ______

۲– ۱۸ د پنسل قلمونه په میز باندې پراته دي. ۸ پنسلونه یې زده کوونکو واخیستل څو پنسلونه پاتې کیږي؟

پنسلونه ____ = ____ – ______

۳– ۲۵ هلکان دتوپ کولو لوبې مسابقه لري ۱۴ تنو يې تفريح وکړه
ځو تنه يې دمسابقي په حالت کې دي؟
هلکان ____ = ____ – ____

۴– د لاندې پوښتنو په تشو ځايونوکې د <، > يا = مناسبه نښه وليکئ.

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲۵ – ۱۱ | ☐ | ۲۸ – ۷ | | | ۳۸ – ۱۴ | ☐ | ۱۵ – ۰ |
| ۴۴ – ۲۳ | ☐ | ۵۵ – ۴۱ | | | ۵۱ – ۳۰ | ☐ | ۲۷ – ۱۶ |
| ۶۰ – ۳۰ | ☐ | ۷۰ – ۴۰ | | | ۳۲ – ۲۲ | ☐ | ۴۷ – ۱۵ |

**کورنۍ دنده:**

لاندې پوښتنې تفريق کړئ.

۱ – ۱۶ – ۷ = ____        ۲ – ۲۳ – ۹ = ____

۲ – ۲۸ – ____ = ۱۳        ۴– ____ – ۹ = ۱۳

۵ – د عبارتي پوښتنې يوه کيسه جوړه کړئ او د هغې عددي افاده وليکئ.

# څوارلسم لوست

## د تفریق عبارتي پوښتنې

هدف: زده کوونکي دې له کیسو او عبارت څخه مفهوم واخستلای شي او هم دریاضي افاده ولیکلای شي.

**عبارتي پوښتنې ولولئ او حل یې کړئ اوپه ګډه کار وکړئ.**

۱. په مېز باندې ۱۷ پنجې دي او هم په مېز باندې ۱۴ چړې دي.

څو دانې پنجې په مېز باندې زیاتې دي

____ پنجې

۲. په الماری کې د ۲۶ په شمېر کاچوغې شته او هم په الماری کې د ۱۵ په شمېر کاسې شته.

په الماری کې څو دانې کاچوغې زیاتې شتوالی لري.

____ کاچوغې زیاتې دي.

**عددي جملې یې ولیکئ او حل یې کړئ.**

مثال: حمید ۳۹ کوترې لیدلې او جمیلې ۲۵ کوترې لیدلې دي.

حمید څو کوترې زیاتې لیدلې دي؟

کوترې ۱۴ = ۲۵ − ۳۹

۱. حمید ۳۸ دانې منې لري او زرغونه ۱۳ دانې منې لري

حمید څو دانې منې زیاتې لري؟

منې ___ = ___ − ___

۲. ملالۍ ۲۰ چوغکې لیدلي او ګلالۍ ۱۶ چوغکې لیدلې دي.

ملالۍ څو چوغکې زیاتې لیدلې دي؟

چوغکې ___ = ___ − ___

د خپل ګروپ سره کار وکړئ. له وړو تیرو یا عددي خط څخه کار واخلئ.

۱- لطیفې ۱۰ کمیسونه په کوټه کې کېښودل او یوشمېر کمیسونه نورهم په کوټه کې وو. چې ټول ۱۲ کمیسونه کېږي وواياست چې مخ کې په کوټې کې څو کمیسونه وو؟

______ کمیسونه

۲- ننګيالي د اوبو ۱۳ جکونه کورته راوړل. چې په کور کې ټول د اوبو ۱۶ جکونه شول ووایاست چې ترمخه په کورکې څو جکونه و؟

______ جکونه

۳- علیشاه ۵ دانې شیریني لري او سلیمه ۳ دانې شیریني، علیشاه څو دانې شیریني ګانې سلیمې ته ورکړې اوس د هغوی ددواړود شیریني ګانو شمېر مساوي دی ووایاست چې علیشاه به څو دانې شریني ګانې سلیمې ته ورکړې وي.

______ دانې شریني ګانې

۴- د ځمکې په مخ ۴ سطله دي هر سطل ۱۲ دانې ډبرې لري ووایاست چې په هغه ځای کې سطلونه ډېر دي اوکه ډبرې؟

**کورنۍ دنده:**

که چېرې د نن ورځې کار مو، ترسره نه کړای شو کار په کور کې سرته ورسوئ.

# پنځلسم لوست

## د جمعې او تفریق تر منځ اړیکي

هدف: زده کوونکي دې پوه شي که چېرې د جمعې له حاصل څخه د جمعې یوجز تفریق کړو د جمعې بل جز حاصلیږي اوکه چېرې د تفریق حاصل له مفروق سره جمع کړو مفروق منه راکوي.

تاسو پوهیږئ چې جمع اوتفریق یوله بله سره ٥ اړیکي لري لاندې مثال ته پاملرنه وکړئ. مثال:

تاسو۳ کتابونه لرئ ۴ کتابونه مونږرا ونیول اوس تاسو څو کتابونه لرئ؟

حل: ۷ کتابونه = ۳ + ۴

تاسو ۴ کتابونه لرئ ۳ کتابونه مونږ را ونیول ټول څو کتابونه لرئ.

۷ کتابونه = ۴ + ۳

په همدې ډول که چېرې تاسو ۷ کتابونه ولرئ او ۳ کتابونه خپل ملګري ته ورکړئ اوس به تاسو څو کتابونه ولرئ. ۴ کتابونه = ۳ − ۷

اوس تاسو ۷ کتابونه لرئ او ۴ کتابونه موخپل ملګري ته ورکړل اوس تاسو څو کتابونه لرئ. ۳ کتابونه = ۴ − ۷

تاسو د جمعې او تفریق د دوو عملیو په سرته رسولو سره ددواړو عملیو ترمنځ اړیکي وپیژندلې څرنګه چې ۷=۴+۳ د جمعې یوه عملیه ده او ۳=۴−۷ د تفریق یوه عملیه ده. چې په حقیقت کې د جمعې له حاصل څخه د جمعې یوجز تفریق شو او د جمعې بل جز لاس ته راغلی دی.

عددي جمله ولیکئ: جمع او یا تفریق یې کړئ.

۱− نوري ۵ منې درلودې او نورېې ۴ منې نوري ته ورکړې نوري ټولې

څو منې لري؟

منې ___ = ___ + ___

۲− نوري ا و نوریه ۹ منې لري، نورېې خپلې ۴ منې واخستلې له نورې

سره څو منې پاتې دي.

منې ___ = ___ + ___

۳− سارا ۱۳ بکسه واخیستل او ګلالۍ ۱۴ بکسه واخیستل هغوی ټول

څو بکسونه اخیستي دي؟

بکسونه ___ = ___ + ___

۴− د ۲۷ په شمېر بکسونو شتوالی درلود اوشریفې ۱۴ بکسونه له هغو

څخه واخیستل، اوس څو بکسونه پاتې دي؟

بکسونه ___ = ___ − ___

# شپاړلسم لوست

## د جفت او تاق عددونو پیژندنه

هدف: زده کوونکي باید جفت او تاق عددونه وپیژني.

د دې مخ ښي خواته ۴ دانې شمعې او ۴ پتنګان دي چې هر پتنګ تــه یوه شمعه رسیږي. یوه شمعه اویو پتنګ یوه جوړه جوړوي. اویوه جوړه د۲ دعدد په واسطه ښودل کیږي نو د۲ عدد یو جفت عدد دی، دمــخ کینـې خواته ۳ پتنګه او۲ شمعې دي. څرنګه چې په شکلونو کې لیدل کېږي دوه پتنګه ددوو شمعو په شاوخوا څرخېږي او یو پتنګ یوازې پاته کېږي، دایــو له بله سره مساوي نه دي (بشپړې جوړې نه جوړوي) نو د۳ عدد یو تـــاق عدد دي.



**د زده‌کوونکو فعالیت:** زده کوونکي دې جفت اوتاق عددونه د یو رقمي عددونو په واسطه لکه ۴، ۵، ۶، ۷، ۸، او ۹ د جوړو په جوړولو سره لکه: یو زده کوونکی اویو کتاب، یو ز ده کوونکی یو قلم، یــوقلم او یــوه کتابچه، په ټولګي کې جفت اوتاق عددونه تشخیص اوتوپیر کړاي شي.

له دې لوست څخه پوهېدلای شو چې د (۲، ۴، ٦ او۸) عددونــه جفــت عددونه او د (۱، ۳، ۵، ۷ او۹) عددونه تاق عددونه دي.
نو ټول هغه عددونه چې ديويز رقمونه يـــې ۰، ۲، ۴، ٦ او۸ وي جفــت عددونه او ټول هغه عددونه چې ديويز رقمونه يـــې ۱، ۳، ۵، ۷ او۹ وي تاق عددونه بلل کيږي. په همدې ډول تاسو جفت اوتـــاق عددونــه دوړو ډبرو په جوړه کولو سره په ښه توګه ليدلای شئ.




کوچنۍ ډبرې وکاروئ ا و چارت ډک کړئ.

| | يوکتار د دې کوچنيو ډبرو په اندازه سره جوړ کړئ | آيا دوه مساوي برخې جوړولای شی؟ | جفت عدد، دي اوکه تاق؟ |
|---|---|---|---|
| ۱ | ۱۲ | هو | جفت |
| ۲ | ۱۳ | | |
| ۳ | ۱۴ | | |
| ۴ | ۱۵ | | |
| ۵ | ۱٦ | | |
| ٦ | ۱۷ | | |
| ۷ | ۱۸ | | |
| ۸ | ۱۹ | | |

په لاندې شکلونو کې کوم یویې جفت اوکوم یو یې تاق دی؟

۱. 
______

۲. 
______

۳. 
______

۴. 
______

جفت او یا تاق عددونه ولیکئ.

۱. ۵۵ تاق
۲. ۷۳ ______
۳. ۴۲ ______
۴. ۳۴ ______
۵. ۱۷ ______
۶. ۲٦ ______

**کورنۍ دنده:**

لومړی درې جفت عددونه ولیکئ بیا وروسته درې تاق عددونه ولیکئ

جفت عددونه: ______ ______ ______

تاق عددونه: ______ ______ ______

**مشق او تمرین:**

۱- له ۷۰، ۴۶،۵۴، ۳۳، ۲۳، ۱۶، ۱۵ عددونو څخه جفت عددونه په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

۲- له ۷۵، ۶۰، ۴۲، ۳۸، ۲۵، ۲۲، ۱۸ عددونو څخه تاق عددونه په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

۳- ټول جفت عددونه چې د۳ او ۱۵ ترمنځ دي ویې‌لیکئ؟

۴- ټول تاق عددونه چې د۶ او۲۲ ترمنځ شته دي ویې لیکئ؟

۵- لاندې جدول په مناسبو عددونو سره ډک کړئ.

| | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۵۰ | | | | | | | | ۳۴ | ۳۲ | ۳۰ |

۶- لاندې جدول په مناسبو عددونو سره ډک کړئ.

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۹ | | ۱۵ | | | | | ۵ | ۳ | ۱ |

# دریم فصل
# د دوه رقمي عددونو جمع
## اوولسم لوست
## د دوه رقمي عددونو جمع کول له یوه رقمي عددونو سره (چې حاصل ولري)

هدف: زده کوونکي باید دوه رقمي عددونه له یوه رقمي عددونو سره چې حاصل ولري جمع کړای شي.

مثال:غواړو چې د١٦ عدد د٧ له عدد سره چې حاصل لرونکي دي جمع کړو.



١٦ + ٧ = ٢٣

پوهېږو چې د١٦ عدد له ٦ یودانه یي او د لسو یوه بنډل څخه جوړ شوی دی کله چې ٧ یودانه یي له هغه سره جمع شي د یو دانه یي شمېر ١٣ کېږي چې د هغو یودانه یي څخه یو د لسي بنډل لاس ته راځي او ٣ یودانه یي پاتي کېږي په دې ډول د ټولو لرګیو شمېر دوه بنډله د لسیو او درې یودانه یي ته رسېږي. چې د ٢٣ عدد حاصلیږي. څرنګه چې ٣ یو دانه یي د یویزو په مرتبه کې او٢ لسي د لسیزو په مرتبه کې لیکل کېږي نو له همدې امله ویل کېږي چې د جمعي عملیه حاصل لرونکې ده.




د پورتني مثال له حل کولو څخه په استفادې سره لاندې پوښتنې جمع کړئ.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ٥٤ | ٤٥ | ٣٩ | ٢٥ | ١٧ |
| + ٧ | + ٨ | + ٦ | + ٨ | + ٩ |
| | | ٣٥ | | |

**په ټولګي کې د زده‌کوونکو فعالیت:**

شکلونوته وګورئ او عددي افاده يې وليکئ.



= ______

______ + ______ = ______



= ______

______ + ______ = ______

**کورنۍ دنده:** لاندې پوښتنې جمع کړئ.

| | | |
|---|---|---|
| ۵۷ | ۴۵ | ۳۶ |
| + ۳ | + ۹ | + ۷ |

# اتلسم لوست

## د دوه رقمي عددونو جمع کول له دوه رقمي عددونو سره چې حاصل ولري

هدف: زده کوونکي دې دوه رقمي عددونه له دوه رقمي عددونو سره چې حاصل ولري جمع کړای شي؟

لومړی مثال: غواړو چې د ۱۵ دوه رقمي عدد له ۱٦ دوه رقمي عدد سره جمع کړو دتیر شوي لوست څخه پوهیږو چې د۱۵ عدد له ۵ یودانه یي او یوه لسي بنډل څخه جوړ شوی دی. په همدې ډول د۱٦ عدد له ٦ یوه دانه يي او یوه لسي څخه منځ ته راغلی دی.




| لسيز | يويز |
|---|---|
| ① | |
| ۱ | ۵ |
| + ۱ | ۶ |
| ۳ | ۱ |

دوهم مثال:




| لسيز | يويز |
|---|---|
| ① | |
| ۲ | ۶ |
| + ۱ | ۸ |
| ۴ | ۴ |

۱۴

**د هغه دوه رقمي عددونو مشق او تمرين چې حاصل ولري.**

لومړی یویز سره جمع کړئ. دوهم بیا ګروپ (حاصل ونیسي) جوړ کړئ.
دریم لسیز جمع کړئ.

| | | |
|---|---|---|
| (۱) | (۱) ← (۱۱) | |
| ۴۶ | ۴۶ | ۴۶ |
| + ۳۵ | + ۳۵ | + ۳۵ |
| ۸۱ | ۱ | |

تاسو ولې لومړی یویز سره جمع کوئ؟

د پورته مثال څخه په کار اخستنې سره لاندې پوښتنې حل کړئ.

۱.

| لسیز | یویز |
|---|---|
| ☐ | |
| ۶ | ۳ |
| + ۱ | ۷ |
| | |

| لسیز | یویز |
|---|---|
| ☐ | |
| ۲ | ۷ |
| + ۳ | ۱ |
| | |

| لسیز | یویز |
|---|---|
| ☐ | |
| ۳ | ۹ |
| + ۱ | ۵ |
| | |

| لسیز | یویز |
|---|---|
| ☐ | |
| ۳ | ۷ |
| + ۲ | ۹ |
| | |

۲.

| لسیز | یویز |
|---|---|
| ☐ | |
| ۲ | ۹ |
| + ۶ | ۶ |
| | |

| لسیز | یویز |
|---|---|
| ☐ | |
| ۴ | ۷ |
| + ۱ | ۸ |
| | |

| لسیز | یویز |
|---|---|
| ☐ | |
| ۶ | ۵ |
| + ۲ | ۷ |
| | |

| لسیز | یویز |
|---|---|
| ☐ | |
| ۳ | ۱ |
| + ۲ | ۲ |
| | |

**د خپل یوه ملګري سره کار وکړئ:**

**۳- په الماری کې ۱۴ صندوقه شربت دي. یوه سړي ۳۸ صندوقه نور په هم هغه الماری کې کیښودل. اوس په الماری کې د شربت څو صندوقه دي؟_**

**۴- ګلالۍ دوه سفري بکسونه لري چې دروندوالی یې ۳۴ کیلوګرامه دی، په لاندې بکسونو کې د ګلالۍ سفري بکسونه کوم دي او هر یو یې څو کیلوګرامه دی ________؟**










**۵- په هر کارتن کې د شربت ۳٦ بوتله دي، آیا دوه کارتنه شربتونه د ۷۰ هلکانو لپاره بس کوي؟ ______**

**کورنۍ دنده:**

**د نن ورځې تمرینونه د لاندې کارونو سره، سرته ورسوئ.**

**تاسو په خپله یوه عبارتي پوښتنه ولیکئ او په هغه کې دوه رقمي عددونه وکاروئ اوسبا هغه ټولګیوالو ته وښیاست.**

# نولسم لوست

## د جمعې د دريو جزو جمع کول چې حاصل ولري

هدف: زده کوونکي د دريو عددونو د جمعې حاصل چې حاصل لرونکي دي پيداکړای شي.

**۲۷** هلکان مطالعه کوي، **۳۴** هلکان درياضي کورنۍ کار سرته رسوي او **۱۸** هلکان رسامي کوي ټول څو هلکان دښوونځي کار اجراء کوي؟

اجازه راکړئ چې د جمعې درې جزه يوله بله سره جمع کړو. د دې منظور لپاره لاندې حل په پام کې نيسو.

| په لومړي ګام کې يويز جمع کړئ | په دوهم ګام کې حاصل ونيسئ | په دريم ګام کې لسيز جمع کړئ |
| --- | --- | --- |
| | ١ (۱۹) | ١ |
| ۲۷ | ۲۷ | ۲۷ |
| ۳۴ | ۳۴ | ۳۴ |
| + ۱۸ | + ۱۸ | + ۱۸ |
| | ۹ | ۷۹ |

**۷۹** هلکان دښوونځي کار کوي.

۱- د خپل ملګري سره يوځای کار وکړئ جمع يې کړئ که چېرې اړتياوې حاصل ونيسئ د جمعې حاصل پيداکړئ.

| يويز | لسيز |
| --- | --- |
| | ١ |
| ۲ | ۳ |
| ۸ | ۱ |
| ۲ | + ۴ |
| ۲ | ۹ |

| يويز | لسيز |
| --- | --- |
| | □ |
| ۸ | ۱ |
| ۱ | ۲ |
| ۷ | + ۱ |

| يويز | لسيز |
| --- | --- |
| | □ |
| ۲ | ۶ |
| ۴ | ۱ |
| ۳ | + ۲ |

| يويز | لسيز |
| --- | --- |
| | □ |
| ۷ | ۴ |
| ۰ | ۱ |
| ۶ | + ۲ |

له خپل یوه ملګري سره کار او جمع یې کړئ.

۲.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۵۱ | ۱۶ | ۴۸ | ۵۶ | ۱۲ | ۳۰ |
| ۲۳ | ۲۰ | ۲۱ | ۲۷ | ۲۵ | ۲۴ |
| ۱۳ + | ۶ + | ۲ + | ۴ + | ۵۱ + | ۲۰ + |
| ۸۷ | | | | | |

۳.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۷ | ۳۵ | ۴۷ | ۲۳ | ۱۵ | ۲۲ |
| ۴۳ | ۲۱ | ۱۲ | ۲۳ | ۴۷ | ۱۳ |
| ۱۴ + | ۲۵ + | ۷ + | ۲۳ + | ۳۵ + | ۴۲ + |

۴. ______ = ۲۵ + ۳۷ + ۲۵

۵. ______ = ۳۶ + ۱۸ + ۱۲

کوچنیان مرۍ په تار کې اچوي چې په مارکیټ کې یې وپلوري هر تار څو قیمت لري؟




۱. 

______ افغانۍ

۲. 

______ افغانۍ

۳. 

______ افغانۍ

۴. 

______ افغانۍ

## د دوو رقمي عددونو د جمعې مشق او تمرين

**حبيب ۹۳ افغانۍ لري هغه په دې افغانيو له لاندې شيانو څخه کوم دوه شيان رانيولای شي.**


جاکټ


پتلون


بوټ


کرتۍ

**۴۹ افغانۍ** **۴۸ افغانۍ** **۴۵ افغانۍ** **۴۰ افغانۍ**

**حدس ووهئ ترڅو درته معلوم شي چې ستاسو حدس صحيح دی او که نه؟**

| | | |
|---|---|---|
| دا ډېر زيات قيمت لري کوشش وکړئ داسي شی واخستلای شئ چې قيمت يې لږ وي.<br>۴۹ افغانۍ<br>۴۸ افغانۍ<br>۹۷ افغانۍ | زه نږدې يم خو قيمت يې اوس هم زيات دی کوشش وکړئ داسې شی واخلئ چې بياهم لږ قيمت ولري.<br>۴۹ افغانۍ<br>۴۵ افغانۍ<br>۹۴ افغانۍ | تاسو پوره پيسې لرې چې دا دوه شيان واخلئ.<br>۴۹ افغانۍ<br>+ ۴۰ افغانۍ<br>۸۹ افغانۍ |

**حبيب جاکټ اوکرتۍ را نيولای شي.**

**له خپل ګروپ سره خبرې وکړئ.**

**۱- حبيب په ۹۳ افغانيو نور کوم دوه شيان را نيولای شي؟**

**مرسته: هلته درې نور امکانات شته.**

________ ________ ________

**حل يې کړئ او فکر وکړئ**

**۲- جميله ۸۶ افغانۍ لري هغه غواړي چې له پورته شيانو څخه دوه شيان را ونيسي هغه کوم دوه شيان را نيولای شي؟**

**جميله ______ او ______ را نيولای شي.**

**کورنۍ دنده: د دې لوست د۶، ۷ او۸ ګڼې پوښتنې حل کړئ.**

# اووم فصل

# د عددونو ضرب او ویش عملیې

## څلوېښتم لوست

### د ضرب مفهوم

### دوه، دوه، درې، درې زیاتول او شمېرل

دوه، دوه، درې، درې زیاتول او شمېرل:

هدف: دا لوست زده کوونکي چمتو کوي ترڅو د ضرب او تقسیم مفهومونه په ښه آسانۍ سره زده کړي.



۸ دېرې ___ ٦ دېرې ___ ۴ دېرې ___ ۲ دېرې ___

ټوله ۸ ___

متناوب(پیوسته) شمېرل څه ډول دي؟ دجمع کولو په ډول دي، خو عین عدد په تکراري توګه د خپل یوه ملګري سره کار وکړئ. کوچنۍ دېرې وکاروئ ترڅو مساوي ګروپونه جوړ کړئ. متناوب(پیوسته) شمېر وکړئ، ولیکئ ټوله څو کېږي؟

د خپل یوه ملګري سره کار وکړئ کوچنۍ دېرې وکاروئ ترڅو مساوي ګروپونه جوړ کړئ، متناوب شمېر وکړئ، ویې لیکئ ټوله څو کېږي؟

۱. ۵ وارې ۲، ۲ زیات کړئ

۲ ___ ، ۴ ___ ، ٦ ___ ، ۸ ___ ، ۱۰ ___

ټوله ______

۲. ۴ وارې ۴، ۴ زیات کړي

___ ، ___ ، ___ ، ___

ټوله ___

۳. ۳ وارې ۵ ، ۵ زیات کړئ

___ ، ___ ، ___

ټوله ______

۴. ۴ وارې درې، درې زیات کړئ.

___ ، ___ ، ___ ، ___

ټوله ___

۵. ۵ وارې ۳ ، ۳ زیات کړي

___ ، ___ ، ___ ، ___ ، ___

ټوله ___

٦. ۴ وارې ۵ ، ۵ زیات کړئ.

___ ، ___ ، ___ ، ___ ، ___

ټوله ___

دوه بکسه هر یو یې شپږ هګۍ لري




د چرګې هګۍ رسم کړئ متناوب شمېر وکړئ ویې لیکئ څومره؟

۱. د۳ ، ۳ هګیو ۲ بکسه



د چرګې ټولې ٦ هګۍ

۲. د ۵ ، ۵ هګیو ۴ بکسه

د چرګې ټولې ـــــــ هګۍ

۳. د۴، ۴ هګیو ۲ بکسه

د چرګې ټولې ـــــــ هګۍ

۴. د۴، ۴ هګیو ۴ بکسه

د چرګې ټولې ـــــــ هګۍ

۵. د ٦ ، ٦ هګیو ۳ بکسه

د چرګې ټولې ـــــــ هګۍ

٦. د ۳ ، ۳ هګیو ٦ بکسه

د چرګې ټولې ـــــــ هګۍ

**کورنۍ دنده:** ۴ چرګان هر یو یې ۲ پښې لري په یوه ونه باندې ناست دي شکل یې رسم کړئ متناوب شمېر وکړئ ویې لیکئ ټولې څو پښې دي؟

ـــــــ ، ـــــــ ، ـــــــ ، ـــــــ

ټولې ـــــــ پښې

# يوڅلوېښتم لوست

## دهغو عددونو جمع کول چې مساوي اجزاوې ولري (تکراري جمع)

هدف: دزده کوونکو چمتو کول د ضرب دزده کړې له پاره.

مونږ جمع کولای شو ترڅو پيداکړو چې ټولې څو مڼې دي.

۱۲ = ۳ + ۳ + ۳ + ۳



۳ دانه يې ۴ ګرووپونه = ۱۲




ويې ليکئ څومره؟

۱.



۱۵ = ۵ + ۵ + ۵

۵د دانه يې ۳ ګرووپونه = ۱۵

۲.



___ = ___ + ___ + ___

___ ګرووپه د ___ = ___

۳.



___ = ___ + ___

___ ګرووپونه د ___ = ___

۴.



___ = ___ + ___

___ ګرووپونه د ___ = ___

۵.



___ = ___ + ___ + ___

___ ګرووپونه د ___ = ___



___ = ___ + ___

___ ګرووپونه د ___ = ___

ويي ليکئ څومره؟

۷.



___ + ___ = ___

___ ګروپونه د ___ = ___

۸.



___ + ___ + ___ = ___

___ ګروپونه د ___ = ___

۹.



___ + ___ + ___ = ___

___ ګروپونه د ___ = ___

۱۰.



___ + ___ + ___ + ___ = ___

___ ګروپونه د ___ = ___

۱۱.



___ + ___ + ___ + ___ = ___

___ ګروپونه د ___ = ___

۱۲.



___ + ___ = ___

___ ګروپونه د ___ = ___

۱۳.



___ + ___ + ___ + ___ = ___

___ ګروپونه د ___ = ___

۱۴.



___ + ___ + ___ + ___ = ___

___ ګروپونه د ___ = ___

**کورنی دنده** : ويي ليکئ څومره؟

۱۵.



___ + ___ + ___ + ___ = ___

___ ګروپونه د ___ = ___

# دوه څلوېښتم لوست

## د ضرب نښې

هدف: زده کوونکي پوه شي که چېرې دجمعې اجزاوې مساوي وي دجمعې عمليه په ضرب بدليږي.



کوم وخت چې ګروپونه مساوي وي جمع يا ضرب کولاى شي ترڅو چې مجموعه يې پيداکړئ.



۴ + ۴ + ۴

۳ وارې څلور

۳× ۴ = ۱۲

۱۲ حاصل ده

دا × نښه د ضرب ده

۳ وارې ۴ مساوي له ۱۲      هلته په ۳ ګلدانيوکې ۱۲ ګلان دي.

په ډله ئيزه توګه کار وکړئ جمع يا ضرب يې کړئ ترڅوچې مجموعه يې پيداکړئ.

۱. څومره چوغکۍ؟ ۴ ګروپونه د۳ دانه يي



۳ + ۳ + ۳ + ۳ = ۱۲

۳ وارې ۴ = ۱۲

يا ۴ × ۳ = ۱۲ چوغکې

۲.



___ + ___ + ___ = ___

___ پنځه = ___

___ × ___ = ___ سپي

۳.څومره ميزونه؟۲ګروپونه د۳ دانه يي



___ + ___ = ___

___ درې = ___

___ × ___ = ___ ميزونه

۴.



___ + ___ + ___ = ___

___ يو = ___

___ × ___ = ___ بايسکيلونه

۵– دجمعې دافادو له مخې د ضرب د افادو تش ځايونه ډک کړئ.

۱– ☐ = ۲×۱ يا ۲ = ۱ + ۱

۲– ۳ = ☐ ×۳ يا ۳ = ۱ + ۱+۱

۳– ۴ = ☐ ×۴ يا ۴ = ۱ + ۱ + ۱ + ۱

۴– ۸ = ☐ ×۴ يا ۸ = ۲ + ۲ + ۲ + ۲

۵– ۱۵ = ☐ ×۵ يا ۱۵ = ۳ + ۳ + ۳ + ۳ + ۳

٦– ۱۲ = ☐ ×۳ يا ۱۲ = ۴ + ۴ + ۴

۷– ۱۰ = ۵ × ☐ يا ۱۰ = ۵ + ۵

جمع او ضرب يې کړئ ترڅو حاصل يې پيداکړئ.

.۸



۱۲= ۴ + ۴ + ۴

۳ ګروپونه د ۴ = ۱۲

۳ واري څلور = ۱۲

يا ۳ × ۴ = ۱۲ قفله

۹. څومره موټرونه



___ = ___ + ___ + ___

___ ګروپونه د ___ = ___

___ درې = ___

موټره ___ = ___ × ___

۱۰. څومره کوترې؟



___ + ___ = ___

___ ګروپونه د ___ = ___

___ پنځه = ___

یا ___ × ___ = ___ کوترې

۱۱. څو دانې ګیلاسونه؟



___ + ___ + ___ + ___ = ___

___ ګروپونه د ___ = ___

___ درې = ___

یا ___ × ___ = ___ ګیلاس

۱۲. څومره ګلان؟



___ + ___ + ___ + ___ = ___

___ ګروپونه د ___ = ___

___ پنځه = ___

یا ___ × ___ = ___ ګلونه

۱۳. څومره خټکي؟



___ + ___ = ___

___ ګروپونه د ___ = ___

___ څلور = ___

یا ___ × ___ = ___ خټکی

**کورنی دنده:**

د دې لوست پاتې ټولې پوښتنې بشپړې کړئ.

# درې څلویښتم لوست

## د کتارونو جوړول

هدف: زده کوونکي دې، دې ټکي ته پام وکړي که چېرې دجمعې اجزاوې مساوي نه وي دجمعې عمليه په ضرب باندې بدليدلای نشي.



دا کتارونه د رنګ شوي مربعاتو مختلف شمېر لري.
کتارونه یوله بله سره مساوي نه دي.
مونږ هغه ضربولای نشو.






دا کتارونه سره مساوي دي
په هر کتار کې ۳ خانې دي.
۴ کتارونه
۳ مربع ګانې په هر کتارکې
۴ × ۳ = ۱۲ رنګه مربع ګانې

مساوي کتارونه جوړ کړئ، رنګ یې کړئ چې کتار وښيي ویې لیکئ څومره؟

۱. 

_____ مساوي کتارونه
_____ په هر کتار کې
_____ حاصل

۲. 

_____ مساوي کتارونه
_____ په هر کتار کې
_____ حاصل

۳. 

_____ مساوي کتارونه
_____ په هر کتارکې
_____ حاصل

۴. 

_____ مساوي کتارونه
_____ په هر کتار کې
_____ حاصل

مساوي کتارونه رنګه کړئ ويې ليکئ حاصل يې پيداکړئ.

**۵.** ۳ کتاره د۴ وښيئ



۳ کتاره
۴ په هر کتار کې
۳ × ۴ = ۱۲

**۶.** ۴ کتاره د ۲ وښيئ



___ کتاره
___ په هر کتار کې
۴ × ۲ = ___

**۷.** ۴ کتاره د۵ وښيئ



___ کتاره
___ په هر کتار کې
۴ × ۵ = ___

**۸.** ۵ کتاره د۵ وښيئ



___ کتاره
___ په هر کتار کې
۵ × ۵ = ___

**۹.**



___ کتاره
___ په هر کتار کې
۲ × ۳ = ___

**۱۰.**



___ کتاره
___ په هر کتار کې
۳ × ۵ = ___

**کورنۍ دنده:** ټول تمرينونه حل کړئ ورروسته:

۱. داسې شکلونه رسم کړئ چې ۳×۵ وښيي

۲. داسې شکلونه رسم کړئ چې ۵ × ۷ وښيي

# څلور څلوېښتم لوست
## په ضرب کې د بدلون خاصیت

هدف: زده کوونکي په دې پوه شي که چېرې د ضرب د اجزاو ځایونه بدلون وکړي پروانه کوي یعني د ضرب حاصل کې بدلون نه راځي.

تاسو عددونه په مختلف ډول ضرب کولای شئ چې عین حاصل ولري.




۲ × ۴ = ۸ ، ۴ × ۲ =۸

مساوي کتارونه جوړ کړئ هر کتار رنګ کړئ او حاصل یې پیداکړئ.

۱. 

۵ × ۳ =۱۵ ، ۳ × ۵ =۱۵

۲. 

۳× ۴ = ___ ، ۴ ×۳ = ___

۳. 

۳× ۲ = ___ ، ۲ ×۳= ___

۴. 

۵× ۱ = ___ ، ۱ ×۵ = ___

۵. 

۴× ۵ = ___ ، ۵ ×۴= ___

۶. 

۴× ۲ = ___ ، ۲ ×۴= ___

د ضرب حاصل پیداکړئ.

۷.  

۵× ۳ = ــــ ، ۳ ×۵ = ــــ

۸.  

۲× ۵ = ــــ ، ۵ ×۲ = ــــ

۸. تاسو په خپله عیني عدد ولیکئ او کتارونه يې رنګ کړئ. د ضـــرب ډول، ډول پوښتني ولیکي.



ــــ × ــــ = ــــ



ــــ × ــــ = ــــ

وړې ډبرې استعمال کړئ ترڅو له تاسو سره د ضرب د حاصل پیدا کولـــوکې مرسته وکړي.

۹.

۴ × ٦ = ــــ

٦ × ۴ = ــــ

۱۰.

۲ × ۹ = ــــ

۹ × ۲ = ــــ

۱۱.

۴ × ۵ = ــــ

۵ × ۴ = ــــ

**کورنۍ دنده:** ټول تمرینونه حل کړئ وروسته د لاندې پوښتنو د ضرب حاصل په لاس راوړئ.

۱.

۲ × ۷ = ــــ

۷ × ۲ = ــــ

۲.

۳ × ٦ = ــــ

٦ × ۳ = ــــ

۳.

۸ × ۳ = ــــ

۳ × ۸ = ــــ

# پنځه څلویشتم لوست

## په عمودي شکل ضرب کول

هدف: زده کوونکي سربېره په افقي (په یوه لیک کې) ډول د ضرب په عمودي ډول (یوتربل لاندې) هم پوه شي






$4 \times 3 = 12$

په هر کتار کې ۴ مڼې
کتارونه ۳ ×
ټوله ۱۲ داني مڼې

۱. د ضرب حاصل پیداکړئ ۲کتاره دي.



$7 \times 2 = 14$

۷
کتاره × ۲
۱۴

۲. ۴ ، (۲) دانه يي



$4 \times 2 =$ ___

۴
گروپ × ۲

۳. ۵ گروپ د ۳



$5 \times 3 =$ ___

۵
گروپ × ۳

۴. ۳ کتاره د ٦



$3 \times 6 =$ ___

۳
گروپ × ۶

۷– عددي جملې په دوه ډوله ولیکئ

۲ کتاره د ۸



۸ × ۲ = ۱۶

| |
|---|
| ۸ |
| × ۲ |
| ۱۶ |

۸. ۴ ګروپونه د۵



___ × ___ = ___

| |
|---|
| ☐ |
| × ☐ |
| ☐ |

۹. ۴ کتارونه د۴



___ × ___ = ___

| |
|---|
| ☐ |
| × ☐ |
| ☐ |

۱۰.



___ × ___ = ___

| |
|---|
| ☐ |
| × ☐ |
| ☐ |

ضرب يې کړئ بنايي چې تاسو کوچنۍ ډبرې استعمال کړئ.

۱. 

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲ | ۵ | ۳ | ۷ | ۲ | ۴ | ۷ |
| × ۲ | × ۲ | × ۴ | × ۲ | × ۷ | × ۲ | × ۱ |

۲. ۴ × ۳ = ___ ، ۳ × ۳ = ___ ، ۲ × ۳ = ___

۳. ۴ × ۴ = ___ ، ۳ × ۴ = ___ ، ۲ × ۴ = ___

**کورنۍ دنده:**

د دې لوست ټول تمرینونه حل کړئ.

## شپږ شلوېښتم لوست

## د عبارتي پوښتنو په حل کې د ضرب د عملیې کارول

هدف: زده کوونکي د رياضي د قصو او عبارت څخه د ضرب په مفهوم پوه شي او د رياضي افاده يې هم وليکلای شي.

د ضرب د عملیې څخه په کار اخستو سره حل يې کړئ عددي جملـې يـې وليکئ او د ضرب حاصل پيداکړئ.

۱. د مرسل په بوټي کې ۳ سره ګلونه دي او هر ګل ٦ پاڼې لري ټولې څو پاڼې لري؟

____ = ____ × ____

____ د ګل ټولې پاڼې

۲. موسکا کباب پخوي او هغې دکباب ٦ سيخونه پاخه کړي دي د کباب هر سيخ يې ۴ ټوټې غوښه لري ټوله څو ټوټې غوښه کيږي؟

____ = ____ × ____

ټوله ____ ټوټې غوښه

۳. فريبا په هره ګلدانۍ کې دوه بوټي کينول وواېئ چې هغې په ۵ ګلدانيو کې څو بوټي کينولي دي؟

____ = ____ × ____

ټوله ____ بوټي

۴. د جمېلې په بڼ کې په هر کتارکې د خټکيو ۴ تخمونو د پـاره ځـای شـته ۳ کتاره يې ډک شوي دي. يو کتار يوازې دوه تخمه لري ټول څو تخمه کيږي.

____ = ____ × ____

ټوله ____ تخمه

**کورنۍ دنده:**

تاسو په خپله عبارتي پوښتنې جوړې او د عملیې عددي افادې وليکئ او هـم د ضرب حاصل يې پيداکړئ.

# اوه څلوېښتم لوست

## د شکلونو څخه په کار اخستو سره د ضرب ښوونه

هدف: دشیانو په کارولو سره زده کوونکي باید د۲ ژبنۍ ضرب زده کړي او حافظې ته وسپاري.




۱ × ۲ = ۲

۲ × ۲ = ۴

۳ × ۲ = ٦

۴ × ۲ = ۸

۵ × ۲ = ۱۰

٦ × ۲ = ۱۲

۷ × ۲ = ۱۴

۸ × ۲ = ۱٦

۹ × ۲ = ۱۸

۱۰ × ۲ = ۲۰

**لکه د۲ ضرب د۳ ضرب هم دشکل له مخې په لاندې توګه په لاس راوړو.**




۳=۱×۳=۳

۳+۳=۲×۳=۶

۳+۳+۳=۳×۳=۹

۳+۳+۳+۳=۴×۳=۱۲

۳+۳+۳+۳+۳=۵×۳=۱۵

۳+۳+۳+۳+۳+۳=۶×۳=۱۸

۳+۳+۳+۳+۳+۳+۳=۷×۳=۲۱

۳+۳+۳+۳+۳+۳+۳+۳=۸×۳=۲۴

۳+۳+۳+۳+۳+۳+۳+۳+۳=۹×۳=۲۷

۳+۳+۳+۳+۳+۳+۳+۳+۳+۳=۱۰×۳=۳۰

## د ۵ ضرب

۱ × ۵ = ۵

۲ × ۵ = ۱۰

۳ × ۵ = ۱۵

۴ × ۵ = ۲۰

۵ × ۵ = ۲۵

۶ × ۵ = ۳۰

۷ × ۵ = ۳۵

۸ × ۵ = ۴۰

۹ × ۵ = ۴۵

۱۰ × ۵ = ۵۰

## د ۴ ضرب

۱ × ۴ = ۴

۲ × ۴ = ۸

۳ × ۴ = ۱۲

۴ × ۴ = ۱۶

۵ × ۴ = ۲۰

۶ × ۴ = ۲۴

۷ × ۴ = ۲۸

۸ × ۴ = ۳۲

۹ × ۴ = ۳۶

۱۰ × ۴ = ۴۰

**مشق او تمرین:**

**له حل شوي مثال څخه په کار اخستو سره لاندې تش ځایونه ډک کړئ.**

**۳ × [۲] = ٦**

**۳ × [ ] = ۹**

**۳ × [ ] = ۱۲**

**۳ × ۵ = [ ]**

**[ ] × ٦ = ۱۸**

## اته څلویښتم لوست

## د یوه رقمي عدد ضربول په دوه رقمي عدد کې

هدف: زده کوونکي یو رقمي عدد په دوه رقمي عدد کې ضرب کړاي شي اوپه عین وخت کې د ضرب اجزاوي اود ضرب حاصل وپېژني.

لاندې مثال په نظر کې نیسو په شکل کې لیدل کیږي چې له ۱۳ کتاروڅخه جوړ شوی دی او په هر کتار کې۲ خانې تورې شوې دي، چې دجمعې د دوو مساوي اجزاوو په توګه یې لیکو ۲۶ = ۱۳ + ۱۳

یا ۲۶ = ۲ × ۱۳

د ضرب حاصل      د ضرب دوهم جزء   د ضرب لومړي جزء



اوس غواړو پورتنی مثال د یوې ضربي افادې په توګه ولیکو او ضرب یې کړو.

یویز لسیز

۱ ۳ ←دضرب لومړئ جز

× ۲ ←دضرب دویم جز

لومړی د۲ عدد په یویزو یعنې ۳ کې ضرب کوو چې ٦ کیږي او هغه د ضرب د حاصل د یویزو په ځای کې لیکو.

۱ ۳

× ۲

۶

**وروسته د۲ عدد په لسيزو يعنې ۱ کې ضرب کوو داچې ۱ د لسيزو په ځای کې شتوالی لري يو لسي دی د۲ سره د هغه د ضرب حاصـــل د۲ عدد نه دی خو ۲ لسي يعنې ۲۰ دي.**

$$\begin{array}{r} ١٣ \\ \times\ ٢ \\ \hline ٦ \\ ٢٠ \end{array}$$

**چې د دې دواړو له جمع کولو وروسته د ضرب حاصل يعنې د يـــويزو او لسيزو ځايونه داسې په لاس راځي.**

$$\begin{array}{r} ١٣ \\ \times\ ٢ \\ \hline ٦ \\ +٢٠ \\ \hline ٢٦ \end{array}$$

٢٦ دضرب حاصل

**مثال:**

**غواړو د۱۲ عدد په ۴ کې ضرب کړو.**

| يويز | لسيز |
|---|---|
| ٢ | ١ |

$$\begin{array}{r} ١٢ \\ \times\ ۴ \\ \hline \end{array}$$

**لکه مخکنی مثال ۴ په يويزو کې ضرب کوو چې ۸ حاصليږي يعنې:**

$$\begin{array}{r} ١٢ \\ \times\ ۴ \\ \hline ٨ \end{array}$$

**اوس د ۴ عدد په لسيزوکې چې په حقيقت کې (۱) لسي دی ضرب کوو چې د هغه د ضرب حاصل ۴ کيږي په دې باندې بايد پوه شو چې۴، څلور يويز نـــه دي خو ۴ لسي دي او هغه د لسيزو په ځای کې ليکو يعنې:**

$$\begin{array}{r} ١٢ \\ \times\ ۴ \\ \hline ۴٨ \end{array}$$

**حاصل شوی عدد ۴۸ دی چې د ۸ یویزو او ۴ لسیزو څخه عبارت دی.**

**مثال: غواړو د ۱۳ عدد د ۵ په عدد کې کړو.**

| یویز | لسیز |
|---|---|
| ۳ | ۱ |

```
  ۱۳
× ۵
────
```

**لومړی د ۵ عدد په یویزو یعنې (۳) کې ضرب کوو چې د هغو د ضرب حاصل ۱۵ کیږي د۱۵ د یویزو رقم یعنې ۵ د ضرب د حاصل د یویزو په ځای کې لیکو او د هغه د لسیزو رقم چې (۱) لسي دی د حاصل په توګه د ۱۳ د لسیزو د مرتبې پورته یې لیکو.**

**کوم وخت چې ۵ د لسیزو په مرتبه یعنې (۱) کې ضرب کړو د حاصل شوي یاددابښت سره یې جمع کوو چې د٦ عدد په لاس راځي او د ٦ عدد د ضرب د حاصل د لسیزو په مرتبه کې لیکو چې ٦۵ حاصل کیږي.**




**مشق او تمرین:**

**د لاندې پوښتنو د ضرب حاصل په لاس راوړئ.**

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۵ | ۱۴ | ۱۷ | ۱۶ | ۱۸ | ۲۱ |
| ۴ × | ۵ × | ۳ × | ۵ × | ۴ × | ۲ × |

# نه څلوېښتم لوست

## د ضرب په عملیه کې د(۱) د عدد خاصیت

هدف: زده کوونکي پوه شي (۱) چې په هر عدد کې ضرب شي د ضرب حاصل یې هم هغه عدد دی.

په تیر لوست کې مو ولوستل چې:

۲ = ۱ × ۲ یا ۲ = ۱ + ۱

۳ = ۱ × ۳ یا ۳ = ۱ + ۱ + ۱

۴ = ۱ × ۴ یا ۴ = ۱ + ۱ + ۱ + ۱

۵ = ۱ × ۵ یا ۵ = ۱ + ۱ + ۱ + ۱ +۱

دا لوست مونږ په دې پوهوي هر عدد چې په (۱) کې ضرب شي د ضرب حاصل یې په خپله هم هغه عدد کیږي یعنې:

۶ = ۱ × ۶

۷ = ۱ × ۷

۸ = ۱ × ۸

۲۵ = ۱× ۲۵ او نور.

# پنځوسم لوست

## د ضرب په عمليه کې د (۰) صفر خاصيت

هدف: زده کوونکي پوه شي هر عدد چې په صفر کې ضرب شي د ضرب حاصل يې صفر دی.

مونږ پوهېږو چې په يوازې توګه صفر په معنا د هيڅ دی، په هره اندازه چې د صفرونو شمېر زيات شي بيا هم هيڅ دی يعنې:

۰ = ۰ × ۱ = ۰

۰ = ۰ × ۲ يا ۰ = ۰ + ۰

۰ = ۰ × ۳ يا ۰ = ۰ + ۰ + ۰

۰ = ۰ × ۴ يا ۰ = ۰ + ۰ + ۰ + ۰

۰ = ۰ × ۵ يا ۰ = ۰ + ۰ + ۰ + ۰ + ۰

په همدې ډول:

۰ = ۰ × ٦

۰ = ۰ × ۷

۰ = ۰ × ۸

۰ = ۰ × ۹

د پورتني مثال له مخې ويلای شو هر عدد چې په صفر کې ضرب شـــي د هغه د ضرب حاصل صفر دی.

**مشق اوتمرين:**

۱ – د جمعې افادې په ضرب باندې بدلې کړئ.

۰ + ۰ + ۰ + ۰ + ۰ + ۰

۰+ ۰ + ۰ + ۰ + ۰ + ۰ + ۰

۲ – دا افادې په جمع باندې بدلې کړئ.      = ۰ × ۹

= ۰× ۱۱

# یو پنځوسم لوست

## د ګروپونو جوړول

هدف: دا لوست زده کوونکي د ویش د عملیې دپاره چمتو کوي.



د خپل یوه ملګري سره کار وکړئ

۲۰ کوچنۍ ډبرې استعمال کړئ.

مساوي ګروپونه جوړ کړئ.

هلته څو ګروپونه دي؟

څومره کوچنۍ ډبرې پاتې دي؟

په جوړه یي توګه کار وکړئ هره جوړه دې ۲۰ کوچنۍ ډبـــرې استعمال کړي، عددونه ولیکئ.

| د کوچنیو ډبرو پاتې | مساوي ګروپونه | عملیه | |
|---|---|---|---|
| ۰ | ۵ | د ۴ ګروپونو جوړول | ۱ |
| | | د ۵ ګروپونو جوړول | ۲ |
| | | د ۲ ګروپونو جوړول | ۳ |
| | | د ۸ ګروپونو جوړول | ۴ |
| | | د ۳ ګروپونو جوړول | ۵ |
| | | د ٦ ګروپونو جوړول | ٦ |
| | | د ۱۲ ګروپونو جوړول | ۷ |

ويې ليکي څومره؟

.۸



______ ګلان

د هرو ۵ ګلانو په شاوخوا دايره وکاږئ.

______ ګروپونه

______ پاتې

.۹



______ توپ.

د هرو ۳ توپونو په شاوخوا دايره وکاږئ.

______ توپونه

______ پاتې

.۱۰



______ خزندي.

د هرو ۴خزندو په شاوخوا دايره وکاږئ.

______ ګروپونه

______ پاتې

.۱۱



______ پاڼې.

د هرو ٦ پاڼو په شاوخوا دايره وکاږئ.

______ ګروپونه

______ پاتې

**کورنۍ دنده:** ګډ تکرار

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱− | ۱۷۴ + ۳۴۸ | ۶ × ۲ | ۳۲ + ۲۹ | ۵۶۷ − ۲۱ | ۲۸ − ۹ |
| ۲− | ۷۱۲ − ۲۲۷ | ۵ × ۲ | ۷۲ − ۱۷ | ۳۶ + ۱۸ | ۴ × ۳ |

# دوه پنځوسم لوست

هدف: دا لوست زده کوونکي د ویش د عملیې زده کړې ته چمتو کوي.

د خپل یوه ملګري سره کار وکړئ.

لوبې وکړئ ۲۴ کوچنۍ ډبرې استعمال کړئ.

لومړی: مساوي ګروپونه جوړ کړئ




دوهم: د هرګروپ لپاره یوچوکاټ رسم کړئ د هرشي یا قلم لپاره یوه نښه وټاکئ.



په هر ګروپ کې __۱۲__ دي

__۲__ ګروپونه د ۱۲ په ۲۴ کې شتوالي لري

۱. لوبې ته ادامه ورکړئ! ۲۴ کوچنۍ ډبرې استعمال کړئ. مساوي ګروپونه جوړ کړئ. دهر ګروپ لپاره یو بکس رسم کړئ.

۲.

په هر ګروپ کې _ دي .

او______ ګروپونه د ______ په ۲۴ کې شتوالي لري

۳.

په هر ګروپ کې ________ دي.

او ______ ګروپونه د ________ په ۲۴ کې شتوالي لري.

.۴

په هر ګروپ کې ______ دي.

او ______ ګروپونه د ______ په ۲۴ کې شتوالي لري.

.۵

په هر ګروپ کې ______ دي.

او ______ ګروپونه د ______ په ۲۴ کې شتوالي لري.

.٦




۳ هلکان ۱۸ دانې توته لري.

هغوی، توت په مساوي توګه وویشل.

هر هلک څودانې توته په لاس راوړل.

هر هلک ٦ دانې توته په لاس راوړل.

.۷ ۱۲ تنه په ۳ قالینوکې ګډ دي.
نوپه یوې قالینې کې به څوتنه ګډ وي.



۴ تنه په هره قالینې کې

.۸ ۸ هلکان په دوو مېزوکې ګډ دي
په هر مېز کې څو هلکان دي؟

______ هلکان په هرمېز کې

.۹ ۴ هلکان په١٦ بالونوکې ګډ
دي هر هلک ته څو بالونه رسېږي؟

______ بالونونه د هر هلک لپاره

.۱۰ ۵ هلکان په ۱۰ پنسلونو کې ګډ
دي. هر هلک ته څو پنسلونه رسېږي؟

______ پنسلونه د هر هلک لپاره

**کورنۍ دنده:** د دې لوست ټول تمرینونه حل کړئ.

# دريِ پنځوسم لوست
## ويش

هدف: د دې لوست له زده کړې وروسته زده کوونکي وکولای شي د شيانو په ويش کې خپل ستونزې حل کړي.

د يوه شي جلاء کول په څو مساوي برخو د تقسيم په نامه يـــادېږي ادا ( $\overline{)\phantom{00}}$ ، ÷ ) دتقسيم نښې دي .

که چېرې په يوه پطنوس کې ۸ داني منې ولرو او هغه په دووبـــشقابو کـــې وويشو په هر بشقاب کې ۴ داني منې راځي.



مونږ په رياضي کې دمنو دتقسيم عمليه، چې په دوو مساوي برخـــو ويشل کېږي داسې ليکو

د ويش حاصل ۴ = ۲ مقسوم عليه ÷ ۸ مقسوم

پورته افاده داسې لوستل کېږي، اته تقسيم پر دوو مساوي لـــه ځلـــورو سره په همدې ډول په لاندې چوکاټ کې ۱۲ داني ناکه شته دي. کـــه چېرې هغه په ۳ مساوي برخو جلاء کړو په هر کوچني چوکاټ کې ۴ داني ناکه حاصلېږي.



۴ ناکه

۴ ناکه

۴ ناکه

په رياضي کې د۱۲ ناکو دتقسيم عمليه، چې په درومساوي برخـــو ويـــشل کېـــږي داسې ليکو:

دويش حاصل ۴ = ۳ مقسوم عليه ÷ ۱۲ مقسوم

## مشق او تمرین

**۵ هلکان په ۱۵ مریوکې ګډه دي. هر هلک څومرۍ په لاس راوړي؟**

**لومړي: ۵ ګروپونه وښایاست.**



**دوهم: یوه، یوه مرۍ وهرګروپ ته ورکړئ.**



**دریم: تر هغه پوري دوام ورکړئ ترڅو چې مرۍ خلاصي شي.**



**۱۵ تقسیم پر۵ مساوي له ۳ سره   ۱۵ ÷ ۵ = ۳**

**۱۵ مرۍ چې په ۵ ګروپونو تقسیم شي هر ګروپ ته ۳ مرۍ رسېږي.**

په جوړه یې توګه کار وکړئ. دمساوي ګروپونو جوړولو دپاره کوچنۍ دېرې استعمال کړئ عبارتې پوښتنې ولیکئ او حل یې کړئ.

۱.دوه هلکان په ۱۰ بالونوکې ګډه دي وهر هلک ته څو بالونونه رسېږي.



۱۰ ÷ ۲ = ۵

۲. ۱۶ مرۍ د غاړې په ۲ امیلو باندې وویشئ

----- ÷ ----- = ------

۳. ۹ داني دګیلاس میوه په ۳بشقابونو کې په مساوي ډول کښیږدي.



----- ÷ ------- = ------

۴- ۱۲چوغکې دونې په ۲ ښاخو باندې وویشئ هر ښاخ به څو چوغکې ولري؟

-----÷ ------- = ------

۵- ۸ ګوډي پرانه د ۲ هلکانوترمنځ ګډه دي، هریوه ته څو ګوډي پرانه رسېږي.

---- ÷ ------- = ------

۶- ۳ هلکان په ۱۵ موټرګیوکې ګډه دي، هر هلک ته څو موټرګیه رسېږي.

---- ÷ ------- = ------

۷- ۲۰ قلمه تباشیر په ۴ چوکاټونوکې په مساوي ډول وویشئ

-----÷ ------- = ----

۸-۵ کخوړي ۲۵ مرۍ لري هره کخوړه به څو مرۍ ولري

---- ÷ ------- = ------

۹- ۱۲هلکان په ۳ ګازوکې لوبې کوي په هر ګازکې څوهلکان لوبې کوي

-----÷ ----- = -----

۱۰-۹ مرغۍ په ۳ قفسونوکې په مساوي ډول وویشئ مرسته: لومړئ ګروپونه جوړکړئ

---- ÷ ------- = ------

**کورنۍ دنده:** حل یې کړئ عددي جملې ولیکئ، ګروپونه رسم کړئ.

۱- ادریس ۱۸ بوتله اوبه لري که چیرې خپل هر ملګري ته ۲ بوتله اوبه ورکړي. د ادریس د ملګرو شمېر معلوم کړئ؟

د ادریس ملګري ------ = ------- ÷ ----

۲- حیدر ۱۴ منې لري که چیرې هغه خپل هر ورور ته ۷ منې ورکړي وواياست چې حیدر به څو ورونه ولري؟

په یوه ډګر کې ٦ خیمې دي چې د هرې خېمې په دننه کې ٣ هلکان دي.

ټوله هلته څو هلکان دي؟






٦ ÷ ٣ = ٢     ٦ × ٣ = ١٨     ٦ − ٣ = ٣

---

دپوښتنې صحیح حل په شاوخوا باندې دایره وکارئ.



١. ٢ هلکان قدم وهي.

٣ هلکان نور له هغو سره یوځای کېږي.

اوس څو هلکان قدم وهي؟

٢ × ٣ = ٦     ٣ − ٢ = ١     ٢ + ٣ = ٥

---

٢. ٥ هلکان ماهي نیسي.

اوهر هلک ٣ ماهي ونیول

هلکانو ټول څو ماهي نیولي دي؟



٥ × ٣ = ١٥     ٥ − ٣ = ٢     ١٥ ÷ ٣ = ٥

۳. ۵ هلکان ۱۰ داني ژاولې په مساوي ډول ویشي.
هر هلک ته څو داني ژاولې رسیږي؟



۱۰ + ۵ = ۱۵   ۱۰ ÷ ۵ = ۲   ۲ × ۵ = ۱۰

---

۴. ۸ هلکان د اور په شاوخوا باندې ناست دي. ۲ هلکان له هغوی څخه کورته ځي.
اوس څو هلکان داور په شاوخوا باندې ناست دي



۸ + ۲ = ۱۰   ۸ ÷ ۲ = ۴   ۸ − ۲ = ٦

---

۵. ۱۰ هلکان غواړې چې په یوه سفر کې له ۵ بایسکلونوڅخه په مساوي توګه کار واخلي په یوه بایسکل کې څو هلکان ګډیږي (شریک)؟



۱۰ ÷ ۵ = ۲   ۱۰ + ۵ = ۱۵   ۱۰ − ۵ = ۵

---

**کورنی دنده:**

دهرې عددې جملې لپاره یو عبارت ولیکئ

۱. ۴ × ۲ = ۸

۲. ۱۲ ÷ ۲ = ٦

۳. ۱۷ − ۹ = ۸

## د ضرب او تقسیم مشق او تمرین




یوځای کار وکړئ او تمرینونه حل کړئ
ویې لیکئ څومره؟

۱.



___ + ___ + ___ = ___

___ ګروپونه د ___ = ___

۲.



___ + ___ + ___ + ___ = ___

___ ګروپونه د ___ = ___

۳.



___ + ___ = ___

___ ګروپونه د ___ = ___

۴.



___ + ___ + ___ = ___

___ ګروپونه د ___ = ___

۵. د لاندې افادو حاصل په دوه ډوله پیداکړئ.



___ + ___ + ___ + ___ = ___

___ ګروپونه د ___ = ___

۶.



___ + ___ + ___ = ___

___ ګروپونه د ___ = ___

مساوي کتارونه جوړ کړئ. هر کتار رنګ کړئ، او حاصل یې پیدا کړئ.

۲ کتاره د ۴ ‎ ‎ ۴ کتاره د ۲ ‎ ‎ ۳ کتاره د ۵ ‎ ‎ ۵ کتاره د ۳

۷.





۴× ۲ = ___ ‎ ‎ ۲ ×۴ = ___

۸.





۵× ۳ = ___ ‎ ‎ ۳ ×۵ = ___

۹. ضرب یې کړئ.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۴۳ | ۲۵ | ۳۴ | ۲۳ | ۱۶ | ۱۷ |
| × ۲ | × ۴ | × ۲ | × ۳ | × ۲ | × ۲ |

۱۰. لوبې وکړئ، افاده جوړه کړئ جمع یې کړئ، تقسیم یې کړئ، ۱۲ کوچنۍ ډبرې استعمال کړئ.

په هر ګروپ کې ___ کوچنۍ ډبرې دي.

او ___ ګروپونه د ___ په ۱۲ کې شته

۱۱.

هلته په هر ګروپ کې ___ کوچنۍ ډبرې

هلته ___ ګروپونه د ___ په ۱۲ کې دي.

دکوچنیو ډبرو څخه مساوي ګروپونه جوړ کړئ، رسم یې کړئ.

۱۲. ۱۶چوغکې په ۲ښاخو باندې ناستې دي په هرښاخ باندې څوچوغکې شتوالی لري

___ = ___ ÷ ___

۱۳. ۴ کځوړې ۱۶ مرۍ لري. هره کځوړه څو مرۍ لري.

___ = ___ ÷ ___

**کورنۍ دنده:** د دې لوست ټول تمرینونه حل کړئ.

# څلور پنځوسم لوست

## د ضرب او تقسیم تر منځ اړیکې (رابطه)

هدف: زده کوونکي پوه شي  که چېرې مقسوم په مقسوم علیه باندې تقسیم شي دتقسیم حاصل لاس ته راځي او که چېرې مقسوم علیه دتقسیم له حاصل سره ضرب شي مقسوم لاس ته راځي او دا دتقسیم اوضرب ترمنځ یوه رابطه ده.

لاندې شکل څلور بشقابه منې دي چې په هربشقاب کې دوه، دوه داني منې دي.




د ټولو منو شمېر     ٨     =     ٢     ×     ٤     دي.

اوس که چېرې ٨ داني منې په ٤ بشقابوکې وویشو په هر بشقاب کې ٢ دانـــې منې راځي یعنې.




٨ ÷ ٤ = ٢

په همدې ډول که چېرې ٨ داني منې په ٢ بشقابوکې وویشو.



٨ ÷ ٢ = ٤

٤ × ٢ = ٨

لیدل کیږي چې په هربشقاب کې ۴ داني منې دي نو ویلای شو. که چېـــرې مقـــسوم په مقسوم علیه باندې وویشل شي د ویش حاصل په لاس راځي او که چېرې مقـــسوم علیه د ویش له حاصل سره ضرب شي مقسوم په لاس راځي.

مثال:

٦ ÷ ٣ = ٢

٦ ÷ ٢ = ٣

٣ × ٢ = ٦

# پنځه پنځوسم لوست

## د یوه عدد  ویشل په خپل عدد باندې (په خپل ځان)

هدف: زده کوونکي د دې لوست له زده کړې وروسته پوه شي که چېرې یو عدد په خپل ځان وویشل شي پایله یې (۱)ده.

په یوه بشقاب کې ۳ دانې مڼې دي، فرهاد هغه پــه ۳ کوچنیــو بــشقابونوکې ویشي لیدل کېږي چې په هر بشقاب کې یوه دانه مڼه راځي.



پورتنۍ ویشنه په ریاضي کې داسې لیکل کېږي.

| ۳ | ۳
| ۱ | ۳-
| | ۰

۳ ÷ ۳ = ۱  یا

له دې څخه ویلای شو هر عدد چې په خپل ځان وویشل شي د هغــه حاصــل (خارج قسمت) یو دی نو لیکلای شو چې:

۴ ÷ ۴ = ۱  ۱ ÷ ۱ = ۱

۵ ÷ ۵ = ۱  ۲ ÷ ۲ = ۱

۳ ÷ ۳ = ۱

**تمرین:** لاندې پوښتنې حل کړئ.

۸ ÷ ۸ = ?  ٦ ÷ ٦ = ?

۹ ÷ ۹ = ?  ۷ ÷ ۷ = ?

# شپږ پنځوسم لوست

## د یوه عدد ویشل په (۱) باندې

هدف: زده کوونکي پوه شي هر عدد چې په (۱) باندې وویشل شي نتیجه یې په خپله هم هغه عدد ده.

ګرانو زده کوونکو تاسو هر یو خپل ټولګیوال ته ۲ ټوکه کتابچې ورکړئ او وواياست چې ستاسو دټولیګوال په لاس کې څو ټوکه کتابچې دي. حتمي ستاسو ځواب (۲) دی، چې په حقیقت کې د یوه عدد ویشل په (۱) ده. د دې عمل رياضي شکل یې داسې لیکو.

۱ | ۲
۲ | ۲-
۰

یا ۲ = ۱ ÷ ۲

په همدې ډول که چېرې شریف خپل ۳ دانې قلمونه خپلې یوې خور نازي ته ور وبخښي ویلای شئ چې نازي به څو قلمونه ولري؟ دې پوښتنې په ځواب تاسو ټول پوهېږئ چې نازي ۳ قلمونه لري. چې داعمل هم د یوه عدد ویشل په (۱) باندې دی. د دې رياضي شکل داسې دی. ۳ = ۱ ÷ ۳

له دې مثالونو څخه پوهیدلای شو هر عدد چې په (۱) باندې وویشل شي د ویش حاصل یې په خپله هم هغه عدد دی.

نو لیکلای شو چې:

۲ = ۱ ÷ ۲

۳ = ۱ ÷ ۳

۴ = ۱ ÷ ۴

۵ = ۱ ÷ ۵

تمرین لاندې پوښتنو ته شفاهي ځواب وواياست.

? = ۱ ÷ ۸     ? = ۱ ÷ ۶

? = ۱ ÷ ۹     ? = ۱ ÷ ۷

# اتم فصل

# د اندازه کولو واحدونه

## اووه پنځوسم لوست

## غیر معیاري واحدونه

**هدف**: زده کوونکي په دې پوه شي چې په پخوا وختوکې د شیانو اوږدوالی په څه شي اندازه کیده او هغوی د اوږدوالي معیاري واحد دپیژندلو لپاره چمتو کړئ.

په خپل ټولګي کې د اندازې نیولو لپاره یو شئ وټاکئ د هغه جګوالي او یا اوږدوالي اندازه کړئ.



د اندازې نیولو یو واحد وټاکئ.



عیني شی په یوه بل واحد سره اندازه کړئ ا و چارټ بشپړ کړئ.

| | زه څه شئ اندازه کوم | داندازه کولو واحد | اندازه نیول |
|---|---|---|---|
| ۱ | ور | دزده کوونکي لویشت | کابو ۲۰ لویشتې |
| ۲ | ____________ | __________ | کابو __________ |
| ۳ | ____________ | __________ | کابو __________ |

**کورنۍ دنده**: د موسکا قد یې اندازه کړ چې څومره دی، لومړی یې په لوېشت سره اندازه کړل او وروسته یې په پنسل سره اندازه کړ.

آیا ویلای شئ چې د موسکا قد څولوېشتې او یا څو پنسله شوی دی؟

## اته پنځوسم لوست

## معیاري واحدونه (متر، سانتي متر او ملي متر)

هدف: زده کوونکي دمعیاري واحدونو په ګټه اوپه ورځني ژوند کې دهغو داستعمالولو په طریقه پوه شي.

**متر:** د شیانو اوږدوالی په متر سره اندازه کوي چې یومنل شوې معیاري اندازه ده. مثلاً د ټوکر اوږدوالی، د دړې اوږدوالی، ستاسو د ټولګي اوږدوالي... په متر سره اندازه کېږي. لاندې شکل د یوه متر نمونه ده. یو متر په سلو مساوي برخو ویشل شوی دی او د هغه هرې برخې ته سانتي متروایي یعنې:

۱۰۰ سانتي متر = ۱ متر




**خط کش:** کوچنی اولنډ اوږدوالی د خط کش په واسطه اندازه کېږي تاسو کولای شئ د خپل کتاب اوږدوالی او بر د خط کش په واسطه اندازه کړئ. او په همدې ډول کولای شئ د خپل قلم اوږدوالی دخط کش په واسطه اندازه کړئ چې څو سانتي متره کېږي.

دا یو خط کش ده او ۱۰ سانتي متره اوږدوالی لري.




د خپلې لوېشتې اندازه دخط کش په واسطه معلومه کړئ او ووایاست چې څو سانتي متره ده.



زه له یو متر څخه اوږد یم.

۱ متر ۱۰ دیسي متره کېږي.

۱ متر ۱۰۰ سانتي متره کېږي.

۱ متر ۱۰۰۰ ملي متره کېږي.




تخمین یې کړئ تقریباً څومتره، د خپل یوه ملګري سره یوځای کار وکړئ.

اوږدوالي په ملي متر، سانتي متر، اومتر سره تخمین او هم اندازه یې کړئ ———

| | د لاندې شیانو اندازه اخیستل | تخمیني | اندازه نیول |
|---|---|---|---|
| ۱ | له سره د پښنو ترګوتو پورې | کابو ——— متره | کابو ——— متره |
| ۲ | ستاسو د مېزجګوالی | کابو ——— متره | کابو ——— متره |
| ۳ | د ټولګي اوږدوالی | کابو ——— متره | کابو ——— متره |
| ۴ | د ټولګي د بر واټن | کابو ——— متره | کابو ——— متره |
| ۵ | د ټولګي د څلورو خواو اندازه | کابو ——— متره | کابو ——— متره |
| ۶ | ستاسو د څوکۍ اوږدوالی | کابو ——— متره | کابو ——— متره |
| ۷ | ستاسو د ټولګي د وره لوړوالی | کابو ——— متره | کابو ——— متره |

**کورنۍ دنده:**

حل یې کړئ: د حیدر د تنې لوړوالی ۱۳۰ سانتي متره دی او د ادریس د تنې لوړوالي ۱۱۵ سانتي متره دی د حیدر د تني اوږدوالی څومره زیات دی؟ ———

## نه پنځوسم لوست

## د ټوټه خطونو د اوږدوالي اندازه کول د خط کش په واسطه

هدف:زده کوونکي دې ته چمتو شي چې دهندسي شکلونو دچاپيرال (محيط) داندازه کول دپاره دخط کش څخه کار واخلي.

ګرانو زده کوونکو! تاسو په تيرو لوستونوکې د خط کش له نامه سره بلد شوي ياست. او پوهيږئ چې د لنډ اوږدوالي اندازه کولو لپاره په کار وړل کيږي، مثلاً که چيرې وغواړو د يوه پنسل، اوږدوالی اندازه کړو د خطکش د صفر ټکی (نقطه) د پنسل په يوه سر باندې ايږدو، وينو چې د قلم بل سر د خط کش له کومې درجې سره مطابقت کوي، ځرنګه چې د پنسل بل سر د ۱۰ له عدد سره مطابقت کوي نو وايو چې د پنسل قلم اوږدالي يا اندازه ۱۰ سانتي متره دي.




او په همدې ډول دا ●————● يوټوټه خط دئ. د دې ټوټه خط اندازه يا اوږدوالی ځرنګه چې د پنسل اوږدوالی مو معلوم کړئ، په هم هغه ډول يې اندازه کوو ليدل کيږي چې دنوموړي ټوټه خط اوږدوالی ۵ سانتي متره يا ۵۰ ملي متره دئ.




که چيرې وغواړو چې يو خط د ۴۰ ملي مترو په اوږدالي رسم کړو د دې ټوټه خط اوږدوالي په څو سانتي مترو سره دخط کش په مخ په نښه کوو.

د خپل يوه ملګري سره يوځای کار وکړئ يو خط کش استعمال کړئ او پوښتنو ته ځواب ووایاست.

۱– يو سانتي متر څو ملي متره کيږي

يو سانتي متر ______ ملي متره کيږي.

۲– ۲ سانتي متره څو ملي متره کيږي؟

۲ سانتي متره ______ ملي متره کيږي.

۳. ۳ سانتي متره څو ملي متره کيږي؟
۳سانتي متره ______ ملي متره کيږي.

۴. ۴۰ ملي متره څو سانتي متره کيږي؟
۴۰ ملي متره ______ سانتي متره کيږي.

۵. ۱۵ ملي متره څو سانتي متره کيږي؟
۱۵ ملي متره ______ سانتي متره او______ ملي متره کيږي.

## تمرين

لاندې ټوټه خطونه دخط کش په واسطه اندازه کړئ او ووایاست چې هر یو یې څو سانتي متره او څو ملي متره دي.



# نهم فصل (هندسه)
## شپیتم لوست
## د هندسي شکلونو پيژندنه

هدف: څرنګه چې زده کوونکي په ورځنۍ ژوند کې دهندسي ساده شکلونو سره مخامخ کيږي نولازمه ده چې د هغو سره پيژندګلوي ولري.






**تمرين:**

۱– د(سرِه کړئ) په شکل کې مستطيل، مربع، دايره او مثلث وښاياست.

۲– په پورتنۍ شکل کې څومستطيلونه، څو مربع ګانې، څو دايري او څـــو مثلثونه ليدلاي شئ.



۳– په مخامخ شکل کې څو مثلثونه څو مربع ګانې څو دايري او څو مستطيلونه دي وښاياست.

۴- شکلونوته مخامخ نومونه شته دي، تاسو خپلو کتابچو ته نقل کـړئ. د یوه تیر په واسطه شکل داړوند نامه سره ونښلوي، ګوټونـه (کـنج) او ضلعې یې وښایاست.

مثلث



مربع



مستطیل



دایره



٥ – په لاندې هندسي شکلونو کې دمربع ګانو، مستطيلونو، دايـــرو او مثلث شمېر پيداکړئ.



٦– د خپل کور په چاپيريال (محيط) کې کوم شيان دايروي شـــکل، کـــوم شيان مثلث شکل، کوم شيان مستطيل شکل او کوم شيان مربع شـــکل وينئ نوم يې واخلئ.

# محیط

د یوه شکل ګرد چاپیرواټن دهم هغه شکل دمحیط په نامه یادیږي.




**۲۱ سانتي متره = ۲ + ۳ + ۴ + ۴ + ۸**

**محیط = ۲۱ سانتي متره**

وار ونیسئ دځنډو داوږدوالي اندازه جمع کړئ ترڅو محیط پیداکړئ.

۱.



**ګردچاپیره ـــــــ سانتي متره**

**محیط= ـــــــ سانتي متره**

۲.



**ګردچاپیره ـــــــ سانتي متره**

**محیط= ـــــــ سانتي متره**

۳.




۴. وار ونیسئ دڅنډو اوږدوالی اندازه کړئ، جمع یې کړئ، ترڅو محیط یې پیداکړي.




۵. په خپله خوښه یو شکل رسم کړئ وروسته د هغه محیط په سانتي متر سره اندازه کړئ.

**کورنۍ دنده:** په کورکې دوه شکله پیداکړئ اودهغو محیطه اندازه کړئ او دې ته چمتو شئ چې خپلې نتیجې په ټولګي کې ووایاست.

# لسم فصل

# د کسر پېژندل په عملي توګه

## یو شپیتم لوست

## په هندسي شکلونوکې کسر

هدف: دکسر پېژندنه او معرفت دزده کوونکو دپاره ده او په هندسي شکلونوکې دکسر ښوونه او پوهېدل دزده کوونکو لپاره ډېره آسانه لاره اوطریقه ده.

### مساوی او نامساوی برخې

برخې په عیني اندازه نه دي.



دا مساوي برخې نه دي.

برخې په عیني اندازه دي.



دا مساوي برخې دي.

لاندې هر یو شکل په څو برخو ویشل شوی دی دشکلونو کومه څکه په مساوي برخو او کـوم یـو دشکلونو په نامساوي برخو ویشل شوی دی. لست یې کړئ د مثال څخه کار واخلئ.

برخې ۲

نا مساوي

مساوي (circled)



۱شکل

برخې ۳

مساوي

نا مساوي (circled)



۲شکل

برخې ___

مساوي

نا مساوي



۳شکل

برخې ___

مساوي

نا مساوي



۴شکل

برخې ___

مساوي

نا مساوي



۵شکل

برخې ___

مساوي

نا مساوي



۶شکل

برخې ___

مساوي

نا مساوي



۷شکل

برخې ___

مساوي

نامساوي



۸شکل

مساوي برخې رسم کړئ او هره برخه په مختلف رنګ سره رنګ کړئ.

۹.



۴ مساوي برخې

۱۰.



۳ مساوي برخې



۶ مساوي برخې



۸ مساوي برخې



دوه مساوي برخې



۲ مساوي برخې

**کورنۍ دنده:** ۴ مساوي برخې رسم کړئ ترڅو نوی شکل جوړ کړئ.



مثلث جوړ کړئ.



مستطیلونه جوړ کړئ.
چې مربع نه وي.



مربع ګانې جوړې کړئ.

**دا یوه منه ده**





**د منې نیمایې**

**د منې نیمایې**

دا منه په دوو مساوي برخو ویشل شوې ده
هره برخه د منې یوه، دوهمه برخه جوړه وي
اوهرې برخې ته یو دوهم $\frac{۱}{۲}$ وايي.

# دایو مثلث دی






---

دایوه مربع ده






دامربع په دري مساوي برخوویشل شوي ده.
هره برخه دټولي مربع دریمه برخه جوړه وي.

---

دایو مستطیل ده.






دامستطیل دی په څلورو مساوي برخو ویشل شوی دی، هره برخه د مستطیل څلورمه برخه جوړه وي.

دا یوه دایره ده






دا یوه دایره ده اوپه دوو مساوي برخو ویشل شوي ده، هر یوه د دې دوو برخو څخه یوه دوهمه برخه د دایرې بلل کیږي.

# دوه شپیتم لوست

## د یوه کسري برخې ښوونه

هدف: زده کوونکي پوه شئ چې په څو مساوي برخو ویشل شوي ده یوه برخه یې په کسري شکل ولیکي او هم سرچپه یې یوځومه برخه په شکل کې وښودلای شي.

له ۴ مساوي برخو څخه یوه برخه یې یوه څلورمه بلل کیږي.



شنه رنګه مربع یوه څلورمه ده

درې مساوي برخې دي هره برخه یې یوه دریمه بلل کیږي.



شنه رنګه مربع یوه دریمه

له دوو مساوي برخو څخه هره برخه نیمایي یا یوه، دویمه بلل کیږي.



شنه رنګه مربع نیمایي یا یوه دویمه ده

څو نیمایي یو بشپړ شی جوړوي؟
څو څلورمي یو بشپړ شئ جوړوي؟

۱. نیمایي یې رنګ کړی.



۲. یو دریمه یې رنګ کړئ.



۳. یو دریمه یې رنګ کړئ.



۴. څلور واړه خاني یې رنګ کړئ.



۵.

یوڅلورمه وښیاست



$\frac{١}{۴}$

$\frac{\text{١ شنه برخه}}{\text{۴ مساوي برخو}}$

یو دریمه وښیاست



$\frac{١}{٣}$

$\frac{\text{١ شنه برخه}}{\text{٣ مساوي برخو}}$

یودویمه وښیاست



$\frac{١}{٢}$

$\frac{\text{١ شنه برخه}}{\text{٢ مساوي برخو}}$

کسری خط (دبرخط)

$\frac{١}{۴}$ ، $\frac{١}{٢}$ او $\frac{١}{٣}$ کسر بلل کیږي.

مشق اوتمرین: لاندې جدول بشپړ کړئ د حل شوي مثال څخه کار واخلئ.

| دکسر رنګ شوې برخې ولیکئ | رسم | مساوي برخې |
|---|---|---|
| ۱– $\frac{1}{4}$ دمساوي برخو څخه یوه یوه برخه رنګ شوې ده یا دشکل څلورمه برخه رنګ شوې ده. |  | ۴ |
| ۲– $\frac{\square}{\square}$ |  | |
| ۳– $\frac{\square}{\square}$ |  | |
| | | |

په لاندې شکلونوکې د رنګ شوو برخو کسر ولیکئ.

| | | |
|---|---|---|
| ۴– $\frac{\square}{\square}$  | $\frac{\square}{\square}$  | $\frac{\square}{\square}$  |
| ۵– $\frac{\square}{\square}$  | $\frac{\square}{\square}$  | $\frac{\square}{\square}$  |
| ۶– $\frac{\square}{\square}$  | $\frac{\square}{\square}$  | $\frac{\square}{\square}$  |

زده کوونکي دې ٦ مه ګڼه پوښتنه دکورنۍ دندې په توګه په کورکې حل کړي.

درسي کتابونه د پوهنې په وزارت پورې اړه لري.
په بازار کې يې اخيستنه او خرڅونه په کلکه منع ده. له سرغړونکو سره قانوني چلند کيږي.

**طرح، کمپوز او ډيزاين:** عنايت الله "غفاري" او حميدالله "غفاري"
**رسامان:** محمد غالب او حفيظ الله (منير)

د کتاب د استهلاک دوره (۳) کاله.